په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوی پلاوی
(یوناما)

# افغانستان
# په وسله والو جګړو کې د ملکي وګړو د ساتنې کلنی راپور، کال ۲۰۰۹



**یوناما، د بشري حقونو څانګه**
**کابل**

**جنوري کال ۲۰۱۰**

## د افغانستان نقشه




**مأخذ: د ملګرو ملتونو کارتوګرفیک مرکز، نیویارک**

**افغانستان**

# په وسله والو جګړو کې د ملکي وګړو د ساتنی کلنی راپور، کال ۲۰۰۹

**یوناما**

**یوناما، د بشري حقونو څانګه**
**کابل**

**جنوري کال ۲۰۱۰**

# فهرست

لنډيز ........................................................................................................ 1
I. پر ملکي وګړو د وسله والي جګړې اغيزې: ۲۰۰۹ ........................................................ 1
II. د حکومت ضد عناصر........................................................................................ 8
د حکومت ضد عناصر او ملکي تلفات ........................................................................ 8
ځانمرګي او د تعبيه شويو چاوديدونکو توکو بريدونه........................................................ 9
وژنې، تهديدونې او بې‌رونې......................................................................................... 11
III. حکومت پلوه ځواکونه .......................................................................................... 15
حکومت پلوه ځواکونه او ملکي تلفات ........................................................................... 15
هوايي بريدونه .......................................................................................................... 16
د پوځي اډو موقعيت ................................................................................................. 18
د تلاشي او نيولو عمليات.............................................................................................. 19
د روغتيايي تاسيساتو په وړاندې بريدونه او تلاشي............................................................ 20
حساب ورکونه/د خساراتو جبران ................................................................................ 21
IV. پايلې .............................................................................................................. 22
ضمايم.................................................................................................................... 23
د اصطلاحاتو توضيح .................................................................................................. 23
اضافی ګرافونه.......................................................................................................... 26

**لنډیز**

په افغانستان کې د وسله والې جګړې د شدت او غځېدو سره په ۲۰۰۹ کې د ملکي تلفاتو کچه هم زیاته شوې ده. په ۲۰۰۹ کال کې نږدې ۵۹۷۸ ملکي وګړي وژل شوي او یا هم ټپیان شویدي چې دا په ۲۰۰۱ کې د طالبانو د رژیم د راپرزیدو وروسته لا ټولو لوړه شمیره ده. د هیواد په جنوبي برخو کې چیرته چې جګړه ډیره سخته ده په پراخه اندازه خلک تري اغیزمن شوي دي. د ټولو ملکي تلفاتو نږدې نیمایي چې ۴۴ سلنه کیږي په جنوبي سیمه کې رامنځته شوي دي. همداډول د تلفاتو لوړې شمیرې په جنوب ختیځو برخو کې (۱۵ سلنه)، ختیځو برخو کې (۱۰ سلنه)، مرکزي سیمو کې (۱۱ سلنه) او لویدیځو سیمو کې (۸ سلنه) ښودل شوي دي. په هغه سیمو کی چې مخکی آرامه وی، لکه شمال ختیځ کې، هلته هم نا امنی ترسترګو کیږي چې دلته د کندز ولایت یادونه کولای شو. د ملکی تلفاتو د شمیرې د زیاتوالی برسېره جګړه ځپلو وګړو د معیشت د لاسه ورکول، بې ځایه کیدل او د ملکیت او شتمنیو ویجاړیدلو سره هم مخ شوی دی.

د یوناما د بشري حقونو څانګې د ۲۰۰۹ کال د جنوری د لومړۍ نېټې څخه تر دسمبر د ۳۱ پورې ټولټال ۲۴۱۲ ملکی مړینې ثبت کړي دي. دغه ارقام د هغو شمیرو په پرتله کوم چې په ۲۰۰۸ کې ثبت شوي وې ۱۴ سلنه زیاتوالی ښي، ۱۶۳۰ (۶۷ ٪) یې هغه وژنې دي چې د دولت ضد عناصرو له خوا رامنځته شوی دي او نورې ۵۹۶ (۲۵ ٪) یې دولت پلوه ځلواکونو ته منسوبېږي. پاتې ۱۸۶ مړینې (۸ ٪) په جګړه کې د ښکیلوخواوو نه په یوه پورې هم نه تړل کېږي، ځکه چې ځینې ملکي وګړي د متقابلو ډزو او یا هم د نا چاودو توکو له امله وژل شوي دي.

د دولت ضد عناصر د ملکي مړینو د زیاتې برخې مسوولیت په غاړه لري. د ملکي وګړو مړینې چې د راپورونو له مخې د مخالف وسله وال لوري له خوا ترسره شوي دي، د ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کلونو ترمنځ یې ۴۰ سلنه زیاتوالی موندلی دی، چې د ۱۱۶۰ څخه تر ۱۶۳۰ تنو پورې رسیږي. هغه مړینې چې د شورشیانو د اړوندو فعالیتونو په نتیجه کې رامنځته شوي دي په ۲۰۰۹ کې یې تناسب د دولت پلوه ځواکونو له خوا د رامنځته شویو تلفاتو درې برابره دی. ۱۰۵۴ ملکي مړینې د دولت ضد عناصرو له خوا د ترسره شویو ځانمرګو بریدونو او د نورو تعبیه شویو چاودیدونکو مهماتو په پایله کې رامنځته شوي دي او ۲۲۵ نور یې هغه قربانیان دي چې په نښه شوي او یا د سیاسي وژنو ښکارګرځیدلی دي. دا هغه ډیری تلفات دي چې د دولت د مخالفینو د فعالیتونو په نتیجه کې رامنځته شوي، د شمېره دا ۲۰۰۹ کال د ټولو ملکي مړینې ۵۳ سلنه جوړوي. دغه ټول تاکتیکونه د ملکي مړینو۷۸ سلنه جوړوی چې د دولت مخالفینو ته منسوبېږي. پاتې تلفات د دولت ضد عناصرو د نورو تکتیکونوبه نتیجه کې، چې زیاتره یې د راکټي بریدونو او ځمکنیو ښتو په پایله کې،په داسې مهال رامنځته شوي چې ملکی خلک به د جګړې په ځای کې موجود وو.

ځانمرګو بریدونو او تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د ۱۰۵۴ ملکي وژونو په رامنځته کولو سره د۲۰۰۹ کال د ټولو ملکي وژنو ۴۴ سلنه جوړوي چې د بل هر ډول تاکتیک په نتیجه کې د رامنځته شوي مرګ ژوبلې څخه زیاته اندازه ده. که څه هم په دغه ډول بریدونو کې په لومړی پړاو کې دولتی او یا هم نړیوال وسله وال ځواکونه تر هدف لاندې راغلي دي، خو ډیری وخت دا بریدونه دملکي وګړو د زیاتې ګڼې ګوڼې په ځایونو کې ترسره شوي. همدارنګه ملکي وګړي په قصدي توګه د وژنو، اختطافونو او اعدامونو ښکارشوي دي چې کله هم په هغوي د دولت او یا د نړیوالې ټولنې سره د تړاو ګومان او شک شوی دی. زیات شمېر ملکي وګړي لکه قومی مشران، ښوونکي او ښوونکي او د ساختماني چارو کارکوونکي هم د بریدونو قربانیان شوي دي. نور فعالین لکه ملګري ملتونه اوغیر دولتي موسسې هم تر برید لاندې راغلي دي،دوی زیاتره وخت ګواښول کیږي او په ځینو حالاتو کې تیری هم ورباندې شوی دی. په دغسې کړنوسره وسله وال مخالفین په زیاته اندازه د ملکي وګړو ستونزوته د نه پام کولوڅرګندونه کوي.

د ملکي وګړو سره د مخالفینو مخلوطوالي او ډیری وخت د هغوې د خوا نه ملکي استوګنځایو څخه د پایګاوو په توګه کارول، ملکي وګړي د دولت پلوه قواوو د بریدونو د خطر سره مخ کړي دي.

حکومت پلوه قواوې- افغان ملي امنیتي قواوې او نړیوالي نظامي قواوې- د ۵۹۶ ثبت شویو ملکي وژنو مسوولیت لري. دغه رقم په ۲۰۰۹ کې د ټولو ثبت شویو ملکي تلفاتو ۲۵ ٪ تشکیلوی. په دې ډول حکومت پلوه قواوو ته په منسوب شویو ملکي تلفاتو کې د ۲۰۰۸ په پرتله ۲۸ ٪ کموالی راغلی دی. دغه کموالی هغه اقدامات منعکس کوي چې نړیوالونظامي قواوو د دې لپاره غوره کړي وو چې په عملیاتو کې د ملکي کسانو پر وړاندې د خطر اندازه راټیټه کړي.

که څه هم مثبت ګامونه اوچت شوي دي خو اوس هم د حکومت پلوه ځواکونو د عملیاتو له امله ملکي وګړي په خطر کې دي. د یوناما د بشري حقونو څانګې ۳۵۹ ملکي تلفات ثبت کړي چې د هوايي بریدونو لا امله وژل شوي، دغه شمیره د حکومت پلوه ځواکونو لا خوا شوي ملکي تلفاتو۶۰ ٪ او د ۲۰۰۹ کال د وسلوالي جګړې د ټولو ملکي تلفاتو ۱۵ ٪ جوړوي. دغه رازد نړیوالو او افغان امنیتي ځواکونو د یو لړ ځمکنیو عملیاتو،چې پکې نیونې او پلټنې هم شاملې دي، په ترسره کولو سره ملکي وګړو ته مرګ ژوبله رامنځته شوي. په دې عملیاتو کې ترحده زیاته قوه کارول شوې ده، شتمنۍ زیانمني شوي اوکلتوري حساسیتونوته، په تیره بیا د ښځو په وړاندې، پام نه دی شوی.

د یوناما د بشري حقونو څانګه د نظامي اډو له موقعیت څخه اندېښمنه ده خصوصاً هغه اډې چې د ملکي وګړو د اوسیدلو په سیمو کې او یا هغوي ته نږدې پرتې دي. ملکي خلکو ته د دغو اډو نږدې والی هغوی له زیات ګواښ سره مخامخ کوي ځکه چې نظامي اډې ډیر ځله د وسله والو مخالفینود برید هدف ګرځي. نظامي اډو ته د ملکیانو د نږوالي له امله ملکي خلک وژل شوي او ژوبل شوي دي،د هغوی کورونه او ملکیتونه ویجاړ شوي او د دوی ګټه ګوټه او معیشت هم زیانمن شوی دی. د ملکی خلکو د استوګنی سیمو ته د نظامي تاسیساتو نږدې والی د دې لامل هم ګرځي چې د ټولنو په منځ کې ویره او بې اعتمادي راپیدا شي او دوی د نړیوالو ځواکونو څخه بېزاره شي ځکه چې دوی د متقابلو ډزو په منځ کې راځی او یا د حکومت یا حکومت پلوه قواوو باندې د مخلیفینو د بریدونو په نتیجه کې قرباني شوي دي.

په ۲۰۰۹ کال کې د نړیوالونظامي ځواکونو د ځینې ستراتیژیک او مشخصو ګامونو په اخیستوسره د ملکي تلفاتو اندازه راټیټه شوي. د ایساف په قوماندې کې بدلون، د قوماندې ښکاره جوړښت او د تاکتیک په لحاظ نوو لارښوونو د ایساف له دې هڅو سره مرسته کړې ده چې په ملکي وګړو باندې د جګړې اغیزې کمې کړي. خو د ملکي تلفاتو د تعقیب څانګه چې په ۲۰۰۸ کې په ایساف (دې ته ورته میکانیزم د امریکایي قواوو USFOR-A کې) کې جوړه شوي وه، دومره اغیزمنه نه وه چې د یوناما اندېښنو ته پر وخت ځواب ووایي. دې ته اړتیا شته چې باید د تعقیب د څانګې د ښه والي لپاره نور ګامونه پورته شي، څو دغه کار د ملکي تلفاتو د پېښو په اړه نور هم ګټوراو حسابی واوسي.

دغه راپور د امنیت شورا د ۱۸۶۸ (۲۰۰۹) پریکړې له مخې د یوناما د ټاکل شوی مقصد په اساس، په افغانستان کې په ۲۰۰۹ کال کې په وسلواله جګړه کې د ملکیانو د ساتني په اړه جوړ شوی دی. د یوناما د بشري حقونو څانګه یولړ فعالیتونه په پام کې لري چې په ملکي وګړو د جګړې اغېز کم کړي. په دې فعالیتونو کې د هغو پیښوپه اړه چې ملکیانو ته په کی مرګ ژوبله اوښتي وي، بې پلوه او خپلواکه څارنه او د جهت تحلیل شاملیږي خوهغه شرایط په ډاګه شی چې د ملکي خلکو ژوند زیان سره مخ کوي. د یوناما د بشري حقونو افسرانو (داخلي او نړیوال) چې په افغانستان کې کار کوي له راز راز تخنیکونو څخه په استفادی سره د مشخصو قضیو په باب د ځای اود کس د مشخصولو پرته معلومات راغونډ کړي. مخکې له دې چې توضیحات په یوه خوندي ډیټابیس کې ثبت شي، د معلوماتو د باوریتوب او یقینیتوب په خاطر په وار وار د آړونده سرچینو سره د بشري حقونو څیړونکیوله خوا تحلیل او کتل کیږي ترڅو خپل اطمینان حاصل کړي. د ۲۰۰۹ د جنوري په میاشت کې یو ډیټابیس جوړ شو. د ډیټابیس د جوړولو موخه د قربانیانوعمر او جنسیت په ډاګه کول او د معلوماتو په ښه او اسانه توګه راغونډول او تحلیل دیر. په ځینو حالاتو کی د ځانګړو محدودیتونو، لکه د عملیاتو ګډ ماهیت او په جګړه کی د بیلابیلو وسله والو ډلو او ترهه ګرو شمولیت، د یوناما د بشری حقونو څانګه یواځی دومره مسؤلیت اخلی چی داسی پیښی دی د حکومت پلوه ځواکونو او یا د حکومت مخالفینو پوری منسوب وګڼی. د یوناما د بشري حقونو څانګه پدې راپور کې د وړاندې شویو احصایو د بشپړوالي ادعاء نه کوي، خو د کاری محدودیتونو په نظر کی نیولو سره، کیدای شي چې وضیعت همدا شان وي او د یوناما د بشري حقونو څانګه د ملکي کسانو تلفات کم وښيې.

د ملکي کسانو په اړه د یوناما د بشري حقونو معلومات په داخل او خارج کې امنیت شورا ته د ملګرو ملتونو د عمومي منشي، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ځانګړی استازی یوناما، د ملګرو ملتونو د بیړنی مرستو همغږي کوونکی، د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنردفتر او د ضرورت په وخت کې د ملګرو ملتونو د نورو میکانیزمونو له طریقه په عادي ډول وړاندې کیږي. د یوناما د بشري حقونو څانګه د یو شمیر فعالینو لکه افغان چارواکي، نړیوالو پوځي ځواکونه او داسې نورو سره یو ځای، د نړیوالې بشرپالنې قانون او نړیوالو بشري حقونو د قانون د اجابت د پیاوړتیا په موخه، دفاع کوي. همدا راز دا څانګه د

افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون اوځیني نورو بشري او مدني ټولنو سره د ملکي وګړو د ساتنې او یو شمیرنورو فعالیتونو په اړه چې د پوځي شخړو سره تړاو لري، برخه اخلي.

۲۰۰۹ کال د ملکي کسانو لپاره د پوځي شخړو په حواله د تلفاتو تر ټولو بد کال وه. په دی کال کې د یوناما د بشري حقونو څانګې د ۲۰۰۱ کې د طالبانو د رژیم د نسکوریدو راهیسې د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ ارقام ثبت کړي دي. شخړې شدیدې شوي او اوس هغو سیمو ته هم غځیدلي چې پخوا نسبتا ارامې سیمې شمیرل کیدلې، او په نتیجه کې یې د ملکي کسانو د مرګ ژوبلې شمیر او د ملکیت او عامه زیربناو خرابیدل او له منځه تلل زیات شوي دي، د خلکو د عایداتو سرچینی او معیشت ته د تاوان سبب ګرځیدلي. د پوځي مخالفینو له خوا د سیستماتیکو تکتیکونو کارول د ملکي کسانو د مخ پرزیاتیدونکو وژل کیدو او ټپي کیدو مهم لامل دی. د هوایي بریدونو او په ملکي سیمو کې د پوځي اډو ځای پر ځای کول د ملکي کسانو د وژل کیدو او ټپي کیدو د خطر امکانات زیاتوي. ملګري ملتونه د شخړو په ټولو ښکیلو خواوو غږ کوي چې د نړیوالې بشرپالنې د قانون او نړیوال بشري حقونو د قانون لاندې د خپلو ژمنو ملاتړ او درناوي وکړي څو په ملکي کسانو د شخړو د اغیزو کچه راټیټه کړای شي.

## I. پر ملکي وګړو د وسله والي جګړې اغیزې: ۲۰۰۹

۲۰۰۹ کال د هغه مهال راهیسي چې د یوناما د بشري حقونو څانګې په ۲۰۰۷ کال کې د دغو پیښو په سیستماتیک ډول مستندکولو کار پیل کړی دی تر ټولو ناوړه کال و. شخړه شدیده شوه: یعني جګړه پراخه شوه، او هغه ځایونه یې چې د دې تر مخه آرام وو لکه شمال ختیځ، تر اغیزې لاندې راوستي دي او دا چې دغه جګړه ژوره شوه په دې معنا ده چې د کلیوالو سیمو څخه ښاري سیموته خپره شوی ده. دوامدار بې ثباته او لړزیدونکې امنیتی حالت، چې د وسله والو زیات بریدونه، د کال په اوږدو کې مسلسلې نښتې، چې په کې د ژمې میاشتې هم شاملې دي، د سرحدونو څخه د وسله والو ډلو را داخلیدل او د دولت پلوې ځواکونو زیاتوالی هغه عوامل دي چې د جګړې د لا شدت لامل شوي دي. سربیره پر دې چې جګړې روانی دي، طالبانو په ځینو سیمو کې پټ حکومت (اداري) جوړکړې دی چې د افغانستان د دولت واک او صلاحیت له منځه وړي او یا هم د هغوی سره په مستقیمه سیالۍ کې دریږي. شدیدې جګړې، په تیره بیا جنوبی سیمې او ځینې مهمې ښاري سیمې اغیزمنې کړيدي. او تاثیرات یې پر ملکیانو ډیر زیات شوي دي. د پخوا په څیر د ژمي پر مهال په نښتو کې کمښت هم نه دې راغلی چې وګړوته د ژوند کوم فرصت په لاس ورشي. په دی ترتیب د جګړی روان شکل ملکي وګړي د زیات ګواښ سره مخ کوي.

برسېره پر دې، زیانمنونکو وګړوته رسیدنه یوه ننګوونه ده ځکه چې د نا امنی زیاتوالی د بشري مرستو ساحه محدودوی. سربیره په هغو کسانو چې د جګړې د پیښو څخه په مستقیم ډول اغیزمن شوي دي، او په نتیجه کې مړه او ټپیان شویدي، د وګړو زیاته شمیره د وسله والې جګړې غیرمستقیم اثرات ګالي چې په دې کې آزاده توګه خوځښت د ګواښ سره مخ دی او هغو خدمتونو ته چې د دوی روغتیا، سوکالي او پوهنې لپاره په کار دي، لاسرسي محدودیږی.

دغې جګړې همدارنګه ملکي وګړوته خورا زیات تاوانونه اړولي دي چې په دې کې د زیربناو او بنسټیزو جوړښتونو ویجاړول، د معیشت د امکاناتو تخریب، د ټولنو بې ځایه کول او د بنسټیزو خدمتونو د کیفیت او شتون له منځه وړل شامل دي. دي سره په غیر متناسب ډول زیانمنونکې کسان لکه میرمنې، ماشومان او په داخل کې بیځایه شوي وګړي اغیزمن شوي دي. وسله والی نښتی په واقعیت کې د ټولنیزې – اقتصادي پرمختیا هلې ځلې په شا تمبولې دی او د پرمختیا لپاره د امکاناتو نشتوالی یې لا زیات کړی دی.

د یوناما د بشري حقونو څانګې د دولسو میاشتو په اوږدو کې ټولټال ۲۴۱۲ د ملکي وګړو وژنې ثبت کړې دي. دغه شمیره د ۲۰۰۸ کال په پرتله ۱۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې ټولټال ۲۱۱۸ تنه وه. د ۲۰۰۹ کال د ملکي وګړو د مړینې شمیره د هر کال په پرتله د ۲۰۰۱ کې د طالبانو د رژیم د راپرزیدو څخه وروسته تر ټولو لوړه شمیره ده.

د ملګرو ملتونو لومړنۍ شمیرې دا ښکاره کوي چې د امنیت اړونده پیښو کې ۲۹،۶ سلنه کال په کال زیاتوالی راغلی دی، چې په منځنۍ کچه په هره میاشت کې ۹۶۰،۳ پیښې شوي دي کوم چې په ۲۰۰۸ کال کی ۷۴۱،۱ پیښې د هرې میاشې اوسط دي. د ټاکنو پړاو د ۲۰۰۹ کال تر ټولو پراخه تاوتریخوالی جوتوي. د دولت ضد عناصرو افغانان په ټاکنو کې د نه ګډون په موخه بې زړه کړي او د ټاکنو نوماندانو او د ټاکنو کار کوونکو په وړاندې د ګواښونو او قتلونو لپاره یې مسولیت درلود. د ۲۰ اګست د ولسمشرۍ او د ولایتي شوراګانو د ټاکنو پر مهال د تاوتریخوالي لمن ډیره پراخه وه، د بیلګې په ډول په دې کې دوه هغه ځان مرګي بریدونه هم شامل دي چې په کابل کې د اګست په ۱۵ او ۱۸ نیټه او یو ځانمرګي برید د کندهار په ولایت کې د اګست په ۲۵ نیټه تر سره شول. په ټولیز ډول د سپتمبر میاشت تر ټولو مرګونې میاشت وه چې په کې ۳۳۶ تنه ملکي وګړي ووژل شول.

په ۲۰۰۹ کال کې د ۲۴۱۲ ملکي وژنو له جملې څخه ۱۶۳۰، (۶۷٪) د دولت ضد عناصرو او ۵۹۶ (۲۵٪) یې د دولت پلوه ځواکونو له خوا رامنځته شوي دي. پاتې ۱۸۶ (۸٪) ښایی چې د جګړې پر یو اړخ پورې هم منسوبې نه وي. لکه د پخوانیو کلونو په څیر اکثریت ملکي وژنې د افغانستان په سهیلي سیمه کې رامنځته شوې دي. د دې ترڅنګ په جنوب ختیځ، ختیځ، لویدیز او مرکزي سمیو کې هم زیاتو ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې. جګړه هغو سیمو ته هم غځېدلې ده چې پخوا نسبتاً آرامې سیمې بلل کېدې، په دې کې شمال ختیځ هم شامل دی چې له دې وړاندې په کې د دولت ضد عناصرو فعالیت محدود و.

د دې کال په اوږدو کې هغه تاکتیکونو چې زیاته مرګ ژوبله رامنځته کړې، په هغوکې د تعبیه شوی چاودیدونکي توکي، ځانمرګي بریدونه او هوایی بریدونه (هوایې بریدونه او د نږدې څخه هواېي ملاتړ) شامل دي. دغه بریدونه زیات وخت د ملکي تلفاتو او د ملکي شتمنیو او زیربناوو د زیان سبب شوي دي. ډیری وخت د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو او د ځانمرګي بریدونو د بی توپیره او بې هدفه کارولو له امله ډیرو ملکې وګړو ستونزې او ناورینونه چې د هغوی په وژل کېدواو یا هم ټپی کېدو تمام شوي ګاللی دي. که څه هم د دولت ضد عناصر په اصل کې افغان ملي امنیتی ځواکونه او نړیوال ځواکونه تر هدف لاندې نیسی خو د دوی له خوا د سړک پر غاړه د ماینونو ځای پر ځای کول او یا ځانمرګي بریدونه کول ډیرای وخت د ملکې وګړو د ګڼې مرګ ژوبلې لامل ګرځي. ډیر تعبیه شوي چاودیدونکي وسایل (دواړه د لیري څخه کنټرولیدونکي او یا هم د ماشې د لارې چاودیدونکې) په هغو سړکونو کې ځاي پر ځاي شویدی چې زیاتره د ملکې نقلیه وسیلو او پیاده کسانو له خوا کارول کیږي. همدارنګه د یوناما د بشري حقونو څانګې یو شمیر پیښی ثبت کړې دي چې په هغو کې تعبیه شوی چاودیدونکې وسیلې د استوګنې او په سودا ګریزو سیمو کې لکه بازارونه او دوکانونه دي، ځای پر ځای کړي دي. د ځانمرګي بریدونو په ترڅ کې دولتې ودانۍ لکه وزارتونه او د افغان وسله والو ځواکونو ولایتی ودانۍ چې زیاتې یې د ګڼه ګوڼې څخه ډک په ملکې سیمو کې دي تر هدف او برید لاندې نیولی دي.

په ۲۰۰۹ کال کې ولیدل شوه چې د ملکې وګړو ګڼ شمیر د دولت ضد عناصرو له خوا تر هدف لاندې راغلی وو چې په څرګنده سره داسې انګیرل شوي چې هغوي د افغانستان د دولت، د افغانستان د ملی وسله والو ځواکونو، او یا هم نړیوالو وسله والو ځواکونو ملاتړي او یا هم ورسره تړلی دي. د دې په نتیجه کې عنعنوی قبیلوي جوړښتونه په تیره بیا د افغانستان په سهیلي سیمو کې په زیاته اندازه زیانمن شوي دي او له پامه غورځول شوي دي، ځکه چې قومي مشران د وسله والو مخالفینو له خوا تر هدف لاندي راغلي دي. نور ملکي فعالین لکه د بشري مرستو او د ساختماني چارو کارکوونکې هم د دولت ضد عناصرو د فعالیتونو قربانې شوې دي، چې په دغو فعالیتونو کې ګواښونه، ډارونې، اختطافونه او وژنی شاملې دي. طالبانو اکثره وخت د پښتونولي څخه ګټه اخیستی ده، په تیره بیا د افغانستان په سهیلی سیمو کې چې د میلمه پالني دود کوربه په دې مکلف کوي چې میلمنو ته پناه ځای او خواړه چمتو کړي. په ځینو پیښو او حالاتو کې شورشیان په قصدی توګه د ملکې وګړو د کورونو او په خپله د ملکې وګړو څخه د پوځی بریدونو په وړاندې د ډال او سپر په توګه کار اخیستی دی، چې دا د بشردوستۍ د نړیوال قانون څخه سرغړونه ده.[1] د دې په پایله کې ملکې وګړو ته لا زیات خطر متوجه کړای شوی دی، د شورشیانو سره د تړاو په ګمان هغوي د دولت پلوه ځواکونو له خوا توقیف شوي، د دوی کورونه تلاشي شوي او شتمنۍ یې ویجاړې کړای شویدي.

ملا محمد عمر نوی کړنلاره اعلان کړې ده چې « د مجاهدینو لپاره د اسلامی امارت مقررات» په نوم نومول کیږي او د دې کال په جولای میاشت کې د افغاني طالبانو لپاره د یو کتاب په بڼه په ۱۳ څپرکېو او ۶۷ مادو کې خپور کړی دی. په دې کې په طالبانو غږ شوي دی چې د ملکې وګړو زړونه وګټې او د ملکې تلفاتو مخنیوي وکړي چې په دې کې د ځانمرګو بریدونو یواځې مهمو اهدافو ته محدودول او د اختطافونو نوي لارښوونه وضع کړای شوي دي. دا جوته نه ده چې د دې کړنلارې د اغیزمنتیا او منلو د څارنې په موخه نور تدابیر به نیول کیږي او که نه.

دې کال کې د پام وړ بڼه والې د ملکې وګړو په برخه کې د دولت پلوه ځواکونو د نظامې عملیاتو پر مهال ولیدل شو. د قوماندې نوي جوړښت لا زیات شفاف او د ایساف د قوماندانې سره په استقامت کې دی چې اوس د ایساف او په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو مشري کوي. د امریکې د متحده ایالاتو د دفاع وزیر ته وړاندې شوي د ایساف او ایتلاف د ځواکونو د قوماندان جنرال مک کرستال مقدماتې ارزونی د غیر محرمو برخو او په نورو هغو بیانیو کې چې د ایساف اود ایتلاف د ځواکونو د عمومی قوماندان له خوا تر سره شوی دی، داسی یادښت کوی چې روانه ستراتیژی باید پر وګړو متمرکزه تګلاره وي، چې په دې کې د افغانستان د دولت او د ټولنې د مشرانو سره نږدی همکارې، د ملکې وګړو تحفظ او د ملکی تلفاتو را ټیټولو لپاره کار شامل دي. د نورو ۳۰۰۰۰ تنو پوځیانو زیاتوالی په پام کې نیولو سره چې اټکل کیږي چی د ۲۰۱۰ کال په نیمایی کې به بشپړ شي، د یوناما د بشری حقونو څانګه د دې اندیښنه لري چې په جګړه کې زیاتوالی به د ملکې تلفاتو د زیاتوالی لامل هم شي. که څه هم د تاکتیکې دایرکتیفونو او لارښوونو اود شورشیانو سره د مبارزې د لارښووونو څخه پیروي، که څه هم کولاي شی چې د ملکې تلفاتو کچه د جګړو د شدت سره هم راکښته کړي.

د کال په اوږدو کې ولسمشر کرزی د ملکي تلفاتو د کچی را ټیټولو لپاره تدابیرو څخه په کلکه دفاع کړي او خپل دریځ یی نیولی دی. هغه دا یوه اساسی مساله ګڼلي ده اود نړیوالې ټولنې او نړیوالو وسله والو ځواکونو سره د خپلو اړیکو لپاره یې ټاکونکی شرط بللی دی. پخپلو تبصرو، ویناوو کې ولسمشر کرزی په وار وار سره د ملکي تلفاتو او د شپې پر مهال د تلاشیو غندنه کړي ده. د فبرورۍ په میاشت کې حامد کرزی داسې تبصره وکړه **چې هغه دې ته اړ دی چې د ملکي تلفاتو او د افغانانو د نیولو عمل پای ته د رسولو لپاره کمپاین وکړي...... د افغانستان خلک د خپل دولت څخه دا هیله لري چې د هغوی تحفظ وکړي او د هغوی لپاره ودریږي.**[2] د نړیوالو وسله والو ځواکونو له خوا د عملیاتو په ترڅ کې د ملکي وګړو د وژنې او ټپې کیدو د تفتیش لپاره ګڼ شمیر کمیسیونونه جوړ شوي دي. دغه کمیسیونونه دی ته اړ دي چې دا باوری کړي چې د هغوی موندنې اولس ته څرګندې شي او دا چې د هغوی وړاندیزونه د افغانستان د دولت له خوا په خپل وخت پلی شوي دي.

که څه هم د مړینو عمومی اندول چې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب دي په وروستیو وختونو کې کم شوی دي خو هوایی بریدونه د یوی اندیښنی په توګه پاتې کیږي، د دې په نتیجه کې ۶۱ سلنه ملکي مړینی رامنځته کیږي چې په ۲۰۰۹ کال کې دغه مړینې دولت پلوه ځواکونو ته منسوبې دي.

د یوناما د بشري حقونو څانګه له دې څخه ډیره اندیښمنه ده چې نظامي اډې د خلکو د استوګنې په سیمو کې پرتې دي لکه بازارونه او د ولسوالیو مرکزونه.هر کله چې حکومت ضد عناصر نړیوالې نظامي اډې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو، راکټونو او ځانمرګو بریدونو په ذریعه تر هدف لاندې نیسي ورسره ملکی خلکو ته د تاوان خطرهم زیاتیږي. د نړیوال بشردوستانه قانون له مخې نظامي اډې باید د استوګنې او تجارتي ساحو څخه بهر پرتې وي د دې لپاره چې ملکي کسانو ته د زیان اندازه راټیټه کړای شي.

سره له دې چې د نیونو او پلټنو په برخو کې طرز العملونه په څرګند ډول ښه شوي دي، خو بیا هم د دغو عملونو په وړاندې حساسیت او مخالفت ډیر لیدل کیږي. د بې سارې قوې کارول، شتمنیو ته زیان اړول، او د کلتوري نورمونو په وړاندې بې پروایی لا اوس هم ددغو عملیاتو په ترڅ کې لیدل کیږي. د یوناما د بشري حقونو څانګې "د قواوو د ساتنې پیښې" په اړه چې په ترڅ کې یې ملکی کسان وژل کیدل یا ژوبلیدل، کموالی ثبت کړی دی ځکه چې ملکیان به یا نظامي قطارونو ته ډیر نږدې و او یا به دې کې پاتې راتلل چې اوامر تعقیب کړي. د ملکي کسانو په وژنو او ژوبلیدلو کې دغه کموالی د هغه مثبتو تعدیلاتو نتیجه ده چې په نظامي اوامرو کې راغلي دي او د ملکي افغانانو د پوهاوي کچه لوړه شوې ده.

په افغانستان کې په پراخه کچه مختلف وسله وال کسان په ډول ډول وسلوالوعملیاتو کې بوخت دی. ډیرې ناقانونه وسله والې ډلې لا اوس هم فعالې دي، که څه هم د ناقانونه وسله والو ډلو بې وسلې کولو پروسه (ډیاګ) جریان لري، ناقانونه وسله والې ډلې د وسله والې جګړې په شرایطو کې په بشري حقونو د تیریو په یو لړ پیښو کې ښکیل دي. حکومت هڅه کړې ده چې اربکي، چې د قومي ملیشو په نامه هم یادیږي، استخدام کړي څو په مشخصو ټولنو کې امنیت تامین کړي. نړیوال نظامي ځواکونه هم له محلی تنظیم شویو ملیشو سره د یاغیانو په ضد مرستې کړي دي. په دواړو حالاتو کې محلي ملیشې او ناقانونه وسله والې ډلې په بشري حقونو د تیریو تورونو ته حاضر نه دي چې ځواب ووایي. تر اوسه پورې د دوی لپاره د قوماندې یو ښکاره جوړښت او شفافیت نشته او نه حکومت د دې مسوولیت ښوولی چې د دوی فعالتیونه په یوه چوکاټ کې منظم کړي. د ۲۰۰۹ په اپریل کې د اجیر عسکرو د استخدام په باب د ملګرو ملتونو یوه کاري ګروپ له افغانستان څخه کتنه وکړه او د نورو مسالو تر څنګ یې د "نادولتي فعا لینو د حساب ورکونې، د قربانیانو لپاره د خسارې د جبران حق اخیستل، او د شخصي امنیتي کمپنیو لپاره د "قانون چوکاټ" په مساله باندې غور وکړ. کاری ګروپ د کال په پای کې له دې سره مصروف و چې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا ته په دې باب یو راپور تیار کړي.

په هغو سیمو کې چې شخړې روانې دي خلک بنیادي خدمتونو ته په سختۍ سره لاس رسي پیدا کوي. په دې جمله کې د ښوونځیو بندیدل، د زده کوونکوویرول، خصوصا د نجونو او د ښوونځیو د کارمندانو بېرول شامل دي. کلنیکونه او ناروغان د حکومت ضد عناصرو له خوا تر هدف لاندې راغلي او د حکومت پلوه ځواکونو له خوا پلټل شوي دي او په دې ډول د ملکي هدفونو په څیر د هغوي موقف ته هیڅ پام نه دي شوي. د یونیسف په وینا د ۲۰۰۹ د جنورۍ او نومبر ترمنځ ۶۱۳ داسې قضیې ثبت شوې دي چې په ښوونځیو پورې تړلې وي د دغه ډول پیښو شمیر په ۲۰۰۸ کې په مقایسوي ډول ۳۴۸ و. یونیسف ویلی دي چې جنوبي سیمې

په خاص ډول له دې درکه ډیرې متاثره شوي دي چې د هلمند په ولایت کې له ۷۰ ٪ څخه زیات ښوونځي او په زابل کې له ۸۰ ٪ څخه زیات ښوونځي تړل شوي وو.

د تېر کال په جریان کې د نادولتي موسسو او د ملګرو ملتونو د نمایندګیو کارمندان له تهدید، ګواښ او مرګوني بریدونو سره مخامخ شوي دي. د شخړو په خپریدو سره هغه محیط چې دوی په کې فعاله وو ډیر تنګ او لنډ شو. لارې موټران چې خوراکي توکي یې لیږدول په معمول ډول درول شوي دي او ډریوران د دولت ضد عناصرو له خوا وهل شوي دي؛ په ځینو پیښنو کې هغوي تښتول شوي او مالونه یا سوځول شوي او یا لوټ شوي دي. ځینې نړیوال سازمانونه له بده مرغه د یاغیانو د بریدونو په منځ کې بند پاتې شوي دی لکه څنګه چې د اګست په ۲۵ په کندهار کې د سره صلیب د موسسې یو تن کارمند د ځانمرګی برید له امله ووژل شو.

ښځې او ماشومان او نور زیانمنونکي کسان په خاص ډول د شخړو د شرایطو له امله له ډیرو زیانونو سره مخامخ دي. تاوتریخوالی او په دې پورې تړلې نا امني د دې سبب شوې چې ضروري خدمتونو ته لکه پوهنې او رغتیایي پاملرنې ته د دوی لاس رسي ډیره محدوده شي. ښځې او ماشومان په همدې ډول د هوایي بریدونو، په کورونو باندې د بریدونو، د ځانمرګو بریدونو او چاودیدونکو موادو له امله قرباني شوي دي. دغه بریدونه زیاتره د دې سبب ګرځي چې ډیرې ژورې رواني ناروغی او ذهني پرهارونه پیدا کړي. په اوسنیو شرایطو کې د دې امکان نشته چې ګټور او اغیزمن میکانیزمونه د دغو ستونزو د حل لپاره پیدا شي او یا هغو ته لاس رسي وشي.

د ناوړه نا امنه شرایطو یوه پایله دا ده چې ډیری ښځې یوازې په خپلو کورونو کې بندیواني پاتې کیږي. په یوه ډیره قدامت پروره ټولنه کې په ښځو باندې بریدونه چې په دودیز ډول په عام ژوند کې ډیر محدود نقش لري، دوی نوري هم له عام ژوند څخه لرې او ګوښه ساتي. شخړې د ښځو د ګرځیدو ازادي نوره هم تنګوي او ضروري خدمتونه لکه تعلیم ته د دوی لاس رسي نوره هم کموي. په ځینو مواردو کې د یوناما د بشري حقونو څانګې د دې خطر یادونه کړې ده چې نا امنه شرایط د ښځو په دې پریکړه باندې چې په عامه ژوند کې برخه واخلي ډیر اثر غورزوی، خصوصا د هغو ښځو فیصلې چې ښه اجتماعي موقفونه لري.

لږ تر لږه ۳۴۵ ماشومان د شخړو د تاوتریخوالی له امله وژل شوي دي. د یوناما د بشري حقونو څانګې ډیرې داسې پیښې ثبتې کړې دي چې ماشومان په کې د هوایي بمبارۍ، راکټي بریدونو، چاودیدونو توکو او ځانمرګو بریدونو په وجه متاثره شوي دي. د یوناما د بشري حقونو څانګې داسې راپورونه هم تر لاسه کړي چې ماشومان د وسله والو ګروپونو له خوا استخدام شوي دي. د کال په جریان کې ډیرای داسې قضیې هم ثبتې شوي چې ماشومان د ځانمرګو بریدونو، د چاودیدونو توکو د ځای پر ځای کولو لپاره ګمارل شوي او په نتیجه کې د دوی او دغه راز د نورو ملکي کسانو د مرګ سبب شوی دي.

د اندیښنې خبره دا هم ده چې د افغان امنیتي او نړیوالو ځواکونو له خوا له هغو ماشومانو سره بد چلند کیږي چې د وسله والو ډلو سره د تړاو په تور نیول کیږي. تفصیلي راپورونه په دې باب موجود دي چې ماشومان بې له دې چې قانوني مراحل طې کړي توقیف شوي دي، په ځینو مواردو کې له دوی سره بد چلند هم شوی دی. محمد جواد په ۲۰۰۲ کې دولس کلن و کله چې امریکایي نظامي موټر ته د لاسي بم د اچولو په تور ونیول شو او بیا د ۲۰۰۹ په جولای کې له ګوانتانامو څخه خوشي کړای شو. د هغه د قانوني وکیلانو په وینا، جواد په ګوانتانامو او افغانستان کې د خپل توقیف په موده کې له توهینونکي او غیر انساني چلند سره مخامخ شوی دی چې شکنجه ورته ویلای شو. د هغه له خوشې کیدو وروسته چارواکو ونه شو کولای چې هغه ته په ټولنه کې د بیا ګډیدو لپاره مناسبه مرسته برابره کړي.

د ملګرو ملتونو مختلفې ادارې او نورنهادونه د امنیت شورا د ۱۶۱۲ شمېر پریکړه لیک په تعقیب دا هڅه کوی چې په ماشومانو باندې د وسله والې جګړې اغیزې وڅاري. د امنیت د شورا یو ورروستي راپور (۱۸۸۲) د هغو خواوو نومونه یادوی چې د جنګ په موده کې د ماشومانو د وژنو، عیبي کولو او په هغود جنسي تیری مسوولین ګڼل شوي دي. د افغانستان حکومت د اکتوبر په ۱۸ یو د لوړې رتبې هیئت وګماره چې دغه مساله تر غور لاندې ونیسي. په ډسمبر کې حکومت دا ژمنه وکړه چې د ماشومانو او وسله والې جګړې په باب یوه حکومتي رهبري کوونکي کمیټه وګماري چې له وسله والې جګړې څخه د ماشومانو د ساتلو په باب د عمل یو پلان طرح کړي.

د يوناما د بشري حقونو څانګه په جګړو پورې د مربوطو توقيف شويوکسانو د حال په باب انديښمنه ده، خاصتا د هغو توقيفيانو په باب چې د امريکايي ځواکونو يا د ملي امنيت د رياست له خوا ساتل کيږی. د پخوا په څير د هغو کسانو حالت په باب چې په توقيف کې دي هيڅ معلومات لاس ته نه راځي، په تيره بيا د هغو کسانو په اړه چې په ولايتونو کې د ملي امنيت د اداري له خوا ساتل کيږي. د ملي امنيت اداره د پخوا په شان د يوه پيژندل شوي قانوني چوکاټ څخه پرته چې په ښکاره ډول د دوی له خوا د پلټنو، نيونو او توقيف کولو صلاحيتونه تعريف کړي، عمل کوي او نه د دې اداري د توقيف ځآيونو په باب اصول او مقررات چا ته ښکاره دي. د يوناما د بشري حقونو څآنګې ته راپورونه رسيدلی دي چې پخواني توقيفيان د ملي امنيت د اداري له خوا شکنجه شوی او بد چلند ورسره شوی دی.


د يوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا ډيرې قضيې له سندونو سره وړاندې شوي خو حکومت د هغو په باب پوره پلټنې نه دي کړي او يوازې څو تنه تورن مجرمين د عدالت په مخ کې درول شوي دي. په افغانستان کې د پوليسو ځينې دندې چې د قانون په نافذيدو پورې اړه لري د جګړه ييزو دندو له امله متاثره شوي دي. څرنګه چې د ملي پوليس پرسونل په معمول ډول د ياغيانو په ضد دندو کې هم برخه اخلي، د مثال په ډول د ياغيانو د پلټنو لپاره د کنترول پوستې د دوی دوديزې دندې، چې د جنايتونو په باب تحقيقات کول دي، تر اغيزې لاندې راځي. په دې ډول په جګړو پورې د تړلو حوادثو پوره پلټنه نه شي کيدای.

په بګرام کې د توقيفيانو لپاره نوې طرز العملونه، چې د پروان ولايت د بګرام په هوايي اډه کې په ډسمبر کې د نوې توقيف ځای په جوړولو سره معرفي شوي دي، کولای شي د توقيفيانو د عادلانه پروسې او له دوی سره د چلند او د شرايطو د ښه والي په اړه يو بنياد وګرځي. سره له دې هم، ډيره مهمه خبره دا ده چې ټول توقيفيان بايد له هغو قانوني مراحلو څخه برخمن شي چې د دوی لپاره د افغانستان داخلي قانون، د بشري حقونو نړيوال قانون او د بشردوستی نړيوال قانون تضمين کړي دي.


دا کال په وسله واله جګړه کې د ملکي خلکو د ساتنې په اړه د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا د هڅو د لسمي او د جنيوا د ۱۹۴۹ کال د تړونونو د شپېټيمې کليزې سره برابر دی. په وسله واله جګړه کې د ملکی کسانو د ساتنې په باب د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د راپور په قول (۲۰۰۹) ملکی کسان ځکه له ستونزو سره مخامخ دي چې "په جګړو کې ښکيلي خواوې په اساسي ډول په دې کې پاتې راغلي دي چې د ملکي کسانو د ساتنې په وړاندې خپلې ژمنې ومنې او ددې ژمنو د ساتلو تضمين ورکړي." د نومبر په ۱۱ د امنيت شورا په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په باب يوه لنډه مباحثه درلوده چې ددې شورا په ۱۸۹۴ (۲۰۰۹) لمبر پريکړه ليک باندې پای ته ورسيده. د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنرې ناوی پيلې پرانيستې غونډې ته په خپلو خبرو کې په دې ضرورت ټينګار وکړ چې د ستونزو جبران وشي، معافيت پای ته ورسول شي او د ملکي کسانو بشري حقونه وساتل شي: "لا اوس هم شديده اړتيا شته چې د حساب ورکونې طرز العملونه په عمومي ډول ښه والی پيدا کړي، د جنايي څارنې په ګډون که د قربانيانو د تلافي لپاره يې حکم شوی وي، او په عين وخت کې په جګړو پورې تړلې توقيف ځايونه د ټولو هغو کسانو له خوا چې توقيفيان نيسي او ساتي يې بايد د بشري حقونود قانون سره سم تنظيم شي."

ملګري ملتونه ډير انديښمن دی چې وسله واله جګړه ملکي کسانو ته په ډيره لوړه بيه تماميږي. دې سازمان د يوناما د مشر، د ملګرو ملتونو عمومي منشی د ځانګړی استازی ښاغلی کای ايډي د بيانيو له لارې په څو ځله په دې ټينګار کړې دی چې ټولې ښکيلي خواوې بايد د نړيوالو بشري حقونو او د بشرپالنې د نړيوال قانون په وړاندې خپلو مسووليتونو ته پام وکړي. په جګړو کې د ښکيلو خواوو عملونه بايد ډير څرګند او مسوولانه و اوسي څو تضمين شي چې تر ممکن حده پورې په ملکي خلکو باندې منفي اغيزې کمې شي. همدارنګه ټول هغه کسان بايد په قانوني ډول او په خپل وخت سره د عدالت په وړاندې ودرول شي چې د جنګي قواعدو او د ملکي قانون په خلاف يې په ملکي کسانو تيری کړی وي.

لومړۍ چارټ: راپور ورکړل شوي ملکي تلفات جنوري- ډسمبر ۲۰۰۹



۲- چارټ: په افغانستان کې د وسله والي جګړې په نتیجه کې د ملکي تلفاتو عمومي شمیر




| میاشت | ۲۰۰۷ | ۲۰۰۸ | ۲۰۰۹ |
|---|---|---|---|
| جنوری | 50 | 56 | 141 |
| فبروری | 45 | 168 | 149 |
| مارچ | 104 | 122 | 129 |
| اپریل | 85 | 136 | 128 |
| می | 147 | 164 | 271 |
| جون | 253 | 172 | 236 |
| جولای | 218 | 323 | 198 |
| اګست | 138 | 341 | 333 |
| سپتمبر | 155 | 162 | 336 |
| اکتوبر | 80 | 194 | 162 |
| نومبر | 160 | 176 | 165 |
| ډسمبر | 88 | 104 | 164 |
| مجموعه | 1523 | 2118 | 2412 |


## II. د حکومت ضد عناصر

### د حکومت ضد عناصر او ملکي تلفات


د حکومت ضد عناصرو د فعالیتونو په ذریعه ملکي خلکو ته ډیر زیات تاوانونه رسیدلي دي. د راپورونو له مخې په ۲۰۰۹ کې ۱۶۳۰ تنه ملکي کسان د حکومت ضد عناصرو له خوا وژل شوي دي. دغه شمیر د ۲۰۰۸ په پرتله ۴۱ ٪ زیاتوالی ښیي او په ۲۰۰۹ کې د ټولو ملکي تلفاتو ۶۷ ٪ سلنه جوړوي.

د ځانمرګو او نورو بریدونو په ذریعه د چاودیدونکو موادو په ګډون په ۲۰۰۹ کې په مجموعي ډول د راپورونو له مخې ۱۰۵۴ ملکی کسان وژل شوي دي. ۲۲۵ نور ملکي کسان په نښه شوی او یا اعدام شوي دي. دغه ټول تاکتیکونه په ټولیز ډول د ملکي تلفاتو ۷۸ ٪ جوړوي چې نسبت یې حکومت ضد عناصرو ته شوی دی. د حکومت ضد عناصرو په ذریعه نور تلفات په عمده ډول د راکټي بریدونو ځمکني جنګونو له امله راپیدا شوي چې په ساحه کې موجود ملکي کسانو ته رسیدلی دي.

**دریم چارټ: د حکومت ضد عناصرو له خوا ملکي تلفات چې د حادثې د نوعیت په اساس راغونډ شوي دي**



۴ چارټ: د ملکي تلفاتو شمیر چې نسبت یې د حکومت ضد عناصرو ته شوی دی




**ځانمرګي او د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو بریدونه**

چاودیدونکو توکو او ځانمرګو بریدونو ترټولو تاکتیکونو زیات ملکي تلفات اړولی دي او د وژنو شمیر له ۲۰۰۸ راهیسې په بې ساری ډول زیات شوی چې ۴۵ ٪ زیاتوالی په ډاګه کوي. چاودیدونکو موادو چې د حکومت ضد عناصرو له خوا ایښودل شوي دي ۷۷۳ تنه ملکي کسان وژلی دي (د حکومت ضد عناصرو له خوا د ټولو وژل شویو ملکي کسانو ۴۷ ٪ جوړوي.) او د ځانمرګي بریدونو له امله ۲۸۱ ملکي کسان (حکومت ضد عناصرو له خوا د ټولو ملکي وژل شویو کسانو د شمیر ۲۷ ٪ جوړوي) په ۲۰۰۹ کې وژل شوي دي.

په ۲۰۰۶ کې د یاغیانو د فعالیتونو له زیاتیدو راهیسې، حکومت ضد عناصرو په تدریجي او پرله پسې ډول د غیر متناسبو بریدونو لګله د چاودیدونکو موادو په ذریعه بریدونه او ځانمرګي بریدونو تاکتیک خپل کړی. ډیر ځلي دغه بریدونه په داسې ډول ترسره شوي دي چې د ملکي او نظامي هدفونو ترمنځ توپیر په کې نه دی شوی او په کافي ډول داسې احتیاطي تدابیر نه دی نیول شوي چې د ملکي تلفاتو مخنیوی وشي. په دې ډول د دې بریدونو اغیزې له اصلي هدف څخه ډیر ها خوا اوړي. اګست او سپتمبر د کال تر ټولو خونړی میاشتې وې، چې یاغیانو په کې فعالیتونه درلودل او ډیرې چاودنې یې (په موټرو او لویو لاریو کې بمونه) ترسره کړې دي.

- د راپوړونو له مخې د اګست په ۱۵ په یوه ځانمرګي چاودنه کې په کابل کې د ایساف د مرکزي دفتر په مخکې ۷ تنه ملکي کسان ووژل او لږ تر لږه ۹۰ تنه نور ژوبل شول.
- د راپوړونو له مخې د اګست په ۱۸ په کابل کې د فونیکس کمپ په منځ کې د جلال آباد په سړک په یوه بمي چاودنه کې ۷ کسان ووژل او ۵۰ نور ژوبل شول. په دې چاودنه کې د ملګرو ملتونو د سازمان دوه تنه غړي هم ووژل شول او یو تن یې ټپي شو.
- د اګست په ۲۵ د لاری موټر په یوه بمي چاودنه کې چې د کندهار ښار په یوه تجارتي سیمه کې وشوه ۴۶ تنه ملکي کسان ووژل شول او له ۶۰ څخه زیات نور یې ژوبل کړل. چاودنې څو تجارتي ودانۍ ونړولې او زیات شمیر کورنۍ یې بې کوره کړې. وروسته ښکاره شوه چې د چاودنې اصلي هدف ظاهراً د ملي امنیت ریاست وو چې ورته د رسیدو دمخه وشوه. که څه هم طالبانو په دې برید کې له شرکت څخه انکار کړی دی، خو تر اوسه په محلي کسانو کې داسې څوک نه دي پیژندل شوي چې له دې ډول بریدونو څخه دې کار واخلي.

په سپتمبر کې یو شمیر تعبیه شوي چاودیدونکي مواد، د دې سبب شول چې د ۲۵ ملکی کسانو ژوند واخلي او ۵۲ تنه نور ټپیان کړي. د سپتمبر په ۱۷ د ایساف په قطار باندې په کابل کې د هوایي میدان په سرک یو برید وشو، چې د راپورونو له مخې یې ۲۰ تنه ملکي کسان ووژل او ۴۵ نور یې ژوبل کړل. طالبانو د دې چاودنې مسوولیت ومانه. د سپتمبر په ۸ او ۹ د کابل په هوایي میدان کې د ایساف د نظامي میدان په مقابل کې او په هلمند کې د باستون د کمپ د مخکینی دروازې په مخکې برید وشو چې د راپورونو له مخې څلور ملکی کسان پکې مړه او اوه تنه نور ژوبل شول.

که څه هم ډیر شمیر ځانمرګي بریدونه افغان امنیتي ځواکونه او نړیوال نظامي قوتونه په نښه کوي، د خلکو د اوسیدلو په سیمو کې دغه بریدونه د دې مانا لري چې ملکي کسان د دې بریدونو قرباني کیږي. په دې برسیره حکومت ضد عناصر ډیر ځله د ملکي کسانو په جامه کې ظاهریږي کله چې ځانمرګي یا نورې حملې کوي او په دې ډول د حکومت پلوه ځواکونو لپاره ستونزمنه وي چې د ملکي کسانو او جنګیالو په منځ کې توپیر وکړي.[3]

**په خوست کې دوو چاودونو ملکی تلفات واړول**

د جون په ۲۲ د خوست په ښار کې د دوو چاودنو په نتیجه کې ۱۰ تنه ملکي کسان ووژل شول او ۴۱ نور زخمیان شول. د راپورونو له مخې په دې جمله کې دوه تنه ماشومان د ۹ او ۱۱ کلونو په عمر ووژل شول او لږ تر لږه ۱۱ تنه ماشومان ژوبل شول. دغه پېښه د غرمې په یوه بجه د حکومتي ادارې او مسجد په منځ کې بازار ته څیرمه په یوه ساحه کې وشوه. لومړۍ چاودونه حکومتي ادارې ته نږدې د لاسي بم په ذریعه وشوه او خلک یې په ځان راغونډ کړل چې سملاسي له هغه وروسته دویمه چاودنه وشوه. چارواکي په دې باور دي چې په دې حمله کې د حقاني د شبکې لاس وو.

د حکومت ضد عناصرو دغه راز څو داسي "پیچلي بریدونه" هم کړي دي چې ډیر ګروپونه په منظم ډول په کې شامل و، د ځانمرګو بریدکوونکو او نورو په ګډون چې لاسي بمونه هم ورسره وو. دغه بریدونه ډیر ځله حکومتي ودانۍ تر هدف لاندې نیسي او هلته ملکي کسان هم موجود وي. دریو پیچلو بریدونو چې د جولای په ۲۱ په ګردیز او جلال آباد کې او د جولای په ۲۵ په خوست کې په حکومتي امنیتي ودانیو ترسره شول دا وښودله چې عملیات ډیر پیچلي او په ډیر دقت سره پلان شوي وو. د اکتوبر په ۲۸ یوه مغلقه حمله په کابل کې په یوه میلمستون کې وشوه چې اته تنه ملکیان په کې ووژل شول، چې پنځه تنه یې د ملګرو ملتونو کارمندان وو او ۹ تنه نور ژوبل شول. حمله ډیره ښه تنظیم او په ښه ډول ترسره شوه چې څو تنه ځانمرګي برید کوونکي په کې شامل وو او لاسي بمونه او سپکي وسلې هم پکې استعمال شوې وې. که څه هم طالبانو د دې حملې مسولیت ومانه، خو داسي برېښي چې د حقاني شبکې په کې لاس درلود.

**په کابل کې د ډیرو حکومتي ودانیو په وړاندې پیچلي برید**

د عدلیې وزارت د محبوسینو د ریاست د مرکزي دفتر، د معارف وزارت او د ملي امنیت د ریاست په ودانیو د فبروي په ۱۱ حملې وشوې چې د عدلیې د زارت ۱۳ تنو پشمول ۲۱ ملکي کسان پکې ووژل شول او ۱۴ تنه نور د دې وزارتو کارکوونکی په کې ژوبل شول. د یوناما د بشري حقونو څانګې داسي راپورونه تر لاسه کړي چې په دې حمله کې څو تنه ملکي کسان په عمدي ډول جدا شوي چې په ښکاره ډول ملکي کسان وو او وژل شوي دي. طالبانو په یوه اعلامیه کې ادعا وکړه چې دغه حمله په افغاني توقیف ځایونو کې د توقیفیانو سره د بد چلند، د ۲۰۰۸ په نومبر کې د څو تنو طالبانو د اعداملو او د ۲۰۰۸ په ډسمبر کې د څرخي پله په زندان کې د څو تنو طالبانو د وژلو په بدل کې کړې ده.

د حکومت ضد عناصرو حملې د ملي امنیت د ریاست د کارمندانو او ودانیو په ضد ډیر ځله د هدفونو په نظر کې نیولو سره په غیر متناسب ډول شوي دي چې په نتیجه کې یې ملکی خلک وژل شوي او یا ژوبل شوي دي.

**د ملي امنيت د رياست مرستيال د موټر بم قرباني شو**

د سپتمبر په ۲ د لغمان په ولايت کې د ملي امنيت د رياست مرستيال او د هغه څلور تنه نور کارمندان هغه مهال ووژل شول چې د مهترلام بابا په ښار کې د يوجومات د ننه د يوې غونډې په ترڅ کې د موټر بم حملې هدف وګرځيدل. جومات ډک بازار ته نږدې پروت دی. د دې په نتيجه کې د راپورونو له مخې ۱۸ کسه ملکی کسان ووژل شول او ۶۱ نور زخميان شول چې ښځې او ماشومان په کې شامل وو. طالبانو د دې حملې مسووليت ومانه. د يوې پلټنې وروسته ولايتي چارواکو څلور تنه ونيول. د ډسمبر په ۳۱ له ۱۰۰۰ تر ۱۲۰۰ تنو مظاهره کوونکو له حکومت څخه وغوښتل چې تورنو کسانو ته تر ټولو سخته سزا ورکړي.

تعبيه شوي چاوديدونکي مواد تر ټولو زيات د طالبانو په تاکتيک کې کارول شوي دي. دغه مواد په سيستماتيک ډول او بې له تشخيصه کارول شوي دي چې خاصتاً په جنوبي او جنوب ختيځ سيمو کې يې ډير ملکی تلفات رامنځته کړي دي. د خوست په ولايت کې داسې مقناطسي تعبيه شوي چاوديدونکي مواد کشف شوي دي چې د موټر په باندني برخه پورې نښلي. دغه مواد په خاص ډول په جون کې په يو لړ بريدونو کې کارول شوی دي، چې يو شمير ملکی کسانو ته يې مرګ ژوبله اړولې ده. د ملګرو ملتونو د عمومي منشي خاص استازی په يوه اعلاميه کې هغه بريدونه وغندل چې په سپتمبر کې د کندهار ولايت د ميوند په ولسوالۍ کې د تعبيه شويو چاوديدونکو موادو په ذريعه په بې تشخيصه ډول شوې وه او له مسولو کسانو څخه يې وغوښتل چې له دې کارونو څخه لاس واخلي. د ملکی کسانو نقليه وسيلې چې د اصلي لويو لارو د ويجاړتيا له امله په فرعي لارو سفر کوي له تعبيه شويو چاوديدونکو موادو سره مخ شوي دي چې په نتيجه کې يې ۳۷ تنه ملکي کسان وژل شوي او ۱۸ نور ژوبل شوي دي. په دې جلمه کې ماشومان او ښځې هم شامل دي. په دې حادثه کې د سپتمبر ۲۹ هغه پېښه هم شامله ده چې په ترڅ کې يې ۳۰ تنه ملکي وګړي وژل شوي او ۱۹ تنه نور يې ژوبل شوي دي، کله چې د دوی بس په تعبيه شويو چاوديدونکو موادو ور برابر شو.

د حکومت ضد عناصرو دغه راز د تعبيه شويو چاوديدونکو موادو په ذريعه د خلکو د اوسيدو په سيمو کې هم حملې کړې دي.[4] لکه څنګه چې د غير حکومتي موسسو يوه ګروپ په يوه يادښت کې ذکر شوي دي چې په بې تشخيصه ډول د تعبيه شويو چاوديدونکو موادو استعمال د ميشتندو په سيمو کې خلکوته د ذهني ستونزو سبب ګرځيدلی دي. دې مطالعې موندلې ده چې "د اضطراب او پريشانۍ او د اوسنيو شخړو له امله د نا امنۍ په منځ کې يوه ښکاره اړيکه ليدل کيږي." دغه اغيزې ډير دوام موندلی شي او د ويرې يوه فضا ايجادوی چې په نتيجه کې تحرک کموي او د خلکو لپاره بنيادي خدمتونو ته لاس رسي محدودوی.

**وژنې، تهديدونې او بې‌روني**

د يوناما د بشري حقونو څانګې د وژنو او اعدامونو ۲۲۵ قضيې ثبت کړې دي چې د حکومت ضد عناصرو له خوا ترسره شوې. وسله والو مخالفو ګروپونو په پرله پسې ډول د دې اراده ښوولې ده چې په سيستماتيک ډول ملکی خلک د تهديدونو، بې‌رونکو تاکتيکونو، تښتونو او اعدامونو له لارې هدف وګرځوی؛ په ځينو قضيو کې د ملکي کسانو څخه سرونه غوڅ شوي او ځرول شوي دي.

د حکومت ضد عناصرو دغه اشخاص په ډير ځله وژلي يا اعدام کړي دي چې دوی په هغوي باندې ددې ګمان درلود چې د افغان حکومت يا نړيوالو نظامي ځواکونو ته يې "جاسوسي" کوله؛ له نړيوالو نظامي ځواکونو سره يې د ژباړونکي په حيث کار کاوه، په نظامي اډو کې د لارې د ډريور يا څارونکي په حيث کار کاوه، له حکومت سره يې فعاله همکاري درلوده او يا له دې وجهې چې د افغان امنيتي قواوو پورې تړلی و. د وژنو ډيری شمير د افغانستان په جنوب، جنوب ختيځ او مرکزي برخو کې ترسره شوې دي.

**په هرات کې د اوبو او بريښنا د پخوانی وزير اسماعيل خان د وژنې هڅه**

د سپتمبر په ۱۷ د تعبيه شوو چاوديدونکو موادو يوه حمله د اوبو او بريښنا وزير اسماعيل خان باندې د هرات په انجيل ولسوالۍ کې هغه مهال وشوه کله چې نوموړی له دې لارې هوايي ډګر ته د تلو په حال کې و. اسماعيل خان ژوندې پاتې شو، خو نورڅلور تنه مړه او ۱۵ زخميان شول، چې دوه ښځې او دوه ماشومان په کې شامل وو. طالبانو د دې بريد مسووليت منلی دی.

د حکومت ضد عناصر په ځو مختلفو طریقو سره خپل هدفونه په ګوته کوي. وسله والو ګروپونو په معمول ډول لوي لارې بندولې او په لویو لارو کې د کنترول پوستې جوړې کړې وې د دې لپاره چې د ملکی کسانو موټران وپلټې او د ملکي کسانو د هویت تذکرې او کاغذونه وګوري چې دوی چیرته کار کوي. د دې کار په نتیجه کې ملکی خلک ډیر وډار شول او په ځینو مواردو کې وژل شوي دي. دغه پلټنې په جنوبي، جنوب ختیځ، لویدیځو، مرکزي او ختیځو برخو کې ترسره شوی دي "د شب نامې" د دې لپاره اچول شوي وې چې خلک له مشخصو فعالیتونو څخه منع کړې او خاص انفرادي اشخاص تهدید کړي. دې لیکونو ډیرو خلکو ته دا اخطار ورکړي چې که دوی له حکومت یا نړیوالې ټولنې سره له کارونو څخه لاس وا نه خلې له دوی څخه به "غچ" واخیستل شي. دغه ډول لیکونو د خلکو په منځ کې بیره او ترس راپیدا کړی دی. د یوناما د بشري حقونو څانګې داسې قضیې له اسنادو سره ثبتې کړې دي چې انفرادي اشخاص اختطاف شوي، بیا وژل شوي دي او له جسدونو سره یې لیکونه موندل شوي چې نورو کسانو ته اخطار ورکړي. دغه تاکتیکونه څرګندوی چې د بیروني کمپاین په سیستماتیک ډول ددې لپاره ترسره شوی چې په افغانستان کې له حکومت او نړیوالو ځواکونو سره همکاري او ملاتړ کمزوري کړي. د بیروني دغه کمپاینونه کولای شي چې ټولنې او انفرادي کسان دې ته اړ کړي چې خپل فعالیتونه بدل کړي او یا یې محدود کړي او په نتیجه کې دوی له ډیرو سختیو سره مخامخ کیږي چې کیدای شي خپل عایدات له لاسه ورکړي.

<u>**د فراه په ولایت کې د حکومت ضد عناصرو له خوا د لیک پاڼو ویشل**</u>

د جون په ۱۷ په فراه ښار کې د مسجدونو په شاه خوا کی لیک پاڼې موندل شوي دي چې خلکو ته یې اخطار ورکړی چې له حکومت یا نړیوالوقواوو سره کار ونه کړي. دغه لیک پاڼې د خاک سفید او پښت رود په ولسوالیو کې هم موندل شوي دي.

په ځینو قضیو کې چې له حکومت یا د هغو له همکارانو سره په نړیواله ټولنه کې د "همکاری" په څیر درک شوې دي داسې کارونه و لکه په عامه محضر کې د نړیوالوقواوو ته ښه راغلاست ویل. په فبروري کې یوه داسې قضیه د وردک ولایت د سید آباد په ولسوالی کې په دې تمامه شوه چې دوه تنه ماشومان ووژل شول او یو بل ډیر سخت ووهل شو. دغه ډول اخطارونه ښځې او نارینه او ځینې وختونه ماشومان هم تر هدف لاندې نیسي. ډیرځله د حکومت ملکي مامورین، د ساختماني چاروکارګران، زده کوونکي او ښوونکي، مذهبي مشران، قومي مشران، ډاکټران او دغه راز پخواني پولیس او نظامي پرسونل په وارو وارو د تهدیدونو هدف ګرځي.

د غچ او کسات عمل کیدای شي ډیر چابک او سخت وي. د یوناما د بشری حقونو څانګې ډیرې داسې قضیې مستندې کړې دي چې ملکی کسان اختطاف شوی او بیا وژل شوي دی د دې لپاره چې دوی په ښکاره ډول له حکومت او د هغوي له متحدینو سره همکاري کوله او یا ډیر ځله په دې تور وژل شوي چې "جاسوسي" یې کوله. لویان او ماشومان په جنوب، جنوب ختیځ، ختیځ او مرکزي برخو کې ډیر ځله ددغو تاکتیکونو قرباني شوي دي. د مثال په ډول د جولای په ۱۲ یو شخص چې حکومت او نړیوالونظامي ځواکونو ته د جاسوسي تور ور باندې لګول شوي و په عام محضر کې د وردکو ولایت د چک په ولسوالي کې اعدام شو. د نومبر په ۹ یو محلي مزدور کار چې د نړیوالونظامي قواوو لپاره یې کار کوه، د راپوروونو له مخې د کنړ ولایت د ناری په ولسوالی کې د حکومت ضد عناصرو له خوا تښتول شوی او وژل شوی دی. په ده پسې ویل شوي و چې نړیوالونظامي قواوو ته یې معلومات ورکړي و چې له مخې یې په عملیاتو کې ځو تنه یاغیان وژل شوي وو. د نومبر په ۱۵ پنځه تنه سړی د فراه ولایت د خاک سفید په ولسوالی کې د طالبانو د یوه محلي قوماندان له خوا اختطاف شول. له دوی څخه د دوو سرونه پرې کړای شول چې له حکومت سره یې تړاو درلود او دری نور یې وروسته خوشې شول.

د یوناما د بشري حقونو څانګې ښوولې ده چې په جنوب، جنوب ختیځ او مرکزي برخو کې د قبیلو مشران د طالبانو تر هدف لاندې راغلي دي. د دې کار علتونه دوه ګوني معلومیږي. له حکومت سره دهمکاری کمزوري کول او د هغه قبیلوي جوړښت کمزوري کول چې د وسله والو مخالفینو ملاتړ نه کوي. په نومبر کې په جنوبي برخو کې طالبانو لږ تر لږه شپږ تنه نامتو قومي مشران ووژل. له دې مشرانو څخه ډیرو یې له حکومت سره همکاري کوله او یا یې ډیر مهم پوستونه درلودل، لکه د ولسوالی د شورا غړیتوب.

**د کندهار په ښار کې د ولايتي شورا د غړې ستاره اڅکزۍ وژنه**

د کندهار د ولايت شورا غړي او د ښځو د حقونو يوه فعاله، ستاره اڅکزۍ د اپريل په ۱۲ د دوو تنو په موټرسايکل سورو وسله والو له خوا په کندهار کې ووژل شوه. خبري رسنيو د طالبانو د ويباند قاري يوسف احمدي له قوله ليکلې دي چې طالبانو دا وژلې ده ځکه چې هغه د ولايتي شورا غړې وه او طالبان به د ولايتي شورا غړي، ښځې وي او که سړي، نور هم ووژني.

د نومبر په لومړۍ ورځ حکومت ضد عناصرو د ارزګان ولايت د ديراوت په ولسوالۍ کې د ټولنې يو مهم شخص وواژه، دغه رازيې يو بل مشر چې د هلمند د ناوې د ولسوالۍ د شورا مشرتوب يې کاوه هم وواژه، د نومبر په ۶ د کندهار د سرپوزه د زندان د ښځينه برخې مشره ووژل شوه، د نومبر په لسمه د ناوې د ولسوالۍ د ولسوالۍ د شورا مرستيال او يو بل غړی ووژل شول، د نومبر په ۳۰ د زابل ولايت د شينکۍ د ولسوالۍ يو غړی او قومي مشر ووژل شو. ډيری دغسې پيښو مسووليت طالبانو منلی دی او يا يې قربانيان له هغه پخوا تهديد کړي وو.

**د لنګر د کلي خلک چې دهمکارۍ په تور تورن و د طالبانو له خوا تهديد او وژل شوي دي**

د ارزګان ولايت د چينارو ولسوالۍ [د چوره په ولسوالۍ کې غير رسمي ولسوالۍ] کې د اپريل په ۲۸ د نړيوالونظامي قواوو له عملياتو وروسته طالبانو د کلي خلک له نړيوالونظامي قواوو سره په همکارۍ تورن کړل. په ښکاره ډول طالبان په دې ډير په غوسه وو چې د عملياتو په وخت کې دوی ته ډير زيانونه رسيدلي وو. ددې تاوانونو په نتيجه کې طالبانو په شفاهي ډول تهديدونه واورول او ۴۲ کسان يې په مرستو کولو تورن کړل چې بايد وژل شوی وای. د کلي خلکو ته اخطار ورکړل شوی و چې له موبايل تيلفون څخه به د طالبانو د اجازې پرته استفاده نه کوي. د راپورونو له مخې څو تنه کليوال غرونو ته بېول شوي وو او هلته يې ووژل. د مې په ۱۱ طالبانو ۴ تنه د سيمې خلک اختطاف کړل او په دوی يې د جاسوسي تور ولګاوه: د دوی دوه تنه اعدام شول او دوو تنو نورو ډير سخت وهل وخوړل. د مې په ۲۰ يو تن لاروی چې له ترينکوټ څخه چينارو ته روان و د راپورونو له مخې د طالبانو له خوا درول شوی او په دې يې وژلی و چې له ده سره موبايل تيلفون و. ددې تاوتريخوالي او تهديدونو په نتيجه کې له ۶۰ څخه زياتې کورنۍ ترينکوټ ته وتښتيدلې چيرې چې ډيری يې ځايونه نلري.

دغه راز، د لوړو شخيصتونو او حکومتي مامورينو د وژنې هڅې هم شوي دي. دغو حوادثو د دوی په توانايي باندې چې د ملکي خلکو په وړاندې په اغيزمنه توګه مسووليتونه ترسره کړي، منفي اغيزه کړې ده. دغو حملو په هلمند کې د ولسي جرګې يو غړی او د ارزګان په ولايت کې يو تن ملا په قتل رسولي دي. د مارچ په مياشت کې يو شمير وژنې ترسره شوې دي. وروستی حمله د هغو حملو يوه نمونه ښيي چې د حکومت پلوه ديني عالمانو په ضد شروع شوې ده. د مثال په ډول په نومبر کې د تعبيه شويو چاوديدونکو موادو په ذريعه درې بريدونه ترسره شوي. په دې حملو کې د کندهار د والي د موټرو په کاروان، په لغمان کې د ولسي جرګې د يوه غړي په موټر او د فراه ښار د والي د فتر ته نږدې د تعبيه شويو چاوديدونکو موادو حملې شاملې وې، چې د راپورونو له مخې ۱۵ ملکي کسان په کې وژل شوي او ۴۰ تنه نور يې ژوبل شول. د موټر بم په ذريعه يو ځانمرګي بريد د ولسمشر د پخواني مرستيال او د احمد شاه مسعود ورور ضيا مسعود کور ته نږدې د ډسمبر په ۱۵ په کابل کې وشوه. ضيا مسعود پخپله ژوندی پاتې شو ۸ کسه ملکي کسان ووژل شول او ۴۰ نور زخميان شول. د دغسې مجرمينو ډيری يې ناپيژندلي پاتې شي، که څه هم ډير ځله چارواکي د دغو تهديدونو په باب خبرداري اخيستي وي، خو په دې کې پاتې راغلي وي چې د لوړ پوړو چارواکو د امنيت لپاره کافي تيارې ونيسي او يا داسې ډول تحقيقات پيل کړي چې مجرمين عدالت ته راکاږی.

**په خوست کې د ښځو چارو د رياست د مشرې په ضد تهديدونه**

د اپريل او سپتمبر په منځ کې د خوست ولايت د ښځو چارو د رياست مشره او يوه بله همکاره يې د حکومت ضد عناصرو له خوا ګواښول شوي او د مرګ تهديدونه ورته شوي دي. د دې تهديدونو په نتيجه کې دې ښځو له دې بيرې چې د تهديد هدف به وګرځي خپلې وظيفې پرېښودې او په دې ډول د ښځو چارو د رياست فعاليتونه متاثره شوي دي. محلي چارواکي په دې کې پاتې راغلي دی چې دې دفتر او کارکوونکو ته يې پوره

امنيتي شرايط برابر کړي. د مې په ۱۹ د دې دفتر د مشرې د کور په مخ کې د دفتر موټر و چاودیده. د دغې حادثې، او د جاري تیلفوني تهدیدونو خبر افغان پولیس، د امنیت ریاست، د والي دفتر او په کابل کې د ښځو د چارو وزارت ته ورکړل شوی و. سره له دې هم د دې ساتنه ونه شوه او هغې خو میاشتې خپل کار پرې ایښی و. هغه په پرلپسې ډول د موټر له چاودنې وروسته تهدید شوې ده او په دې ډارول شوې چې کشرې زوی به یې اختطاف شي. که څه هم په پرله پسې ډول تهدیدونه اوري خو هغې خپله دنده د ښځود ریاست د مشرې په توګه په سپتمبر کې بیا پیل کړه.

د شخړو په باب راپورونه په معمول ډول خطرناک او پیچلي وي، ځکه له هر لوری سره خبرې کول کولای شي چې بدګماني او ویره راپیدا کړي. افغان ژورنالستان د اختطاف، تهدیدونو او وژنو په ذریعه په نښه شوي دي او د هیواد په ډیرو برخو کې د بیان ازادي محدوده شوې ده. په مارچ کې دوه تنه ژورنالستان ووژل شول. د مې په میاشت کې حکومت ضد عناصرو اووه تنه ملکي کسان چې پنځه تنه یې د الجزیری د شبکې ژورنالستان وو په کنړ کې وتښتول. د دوی څلور تنه وروسته خوشې کړای شول او یو پاتې شو. یوه میاشت وروسته یو له دغو څخه د ملي امنیت د ریاست له خوا ونیول شو او څو ورځې له دوې سره و. هغه ژورنالستان چې له طالبانو سره خبرې کوي، معمولاً د ملي امنیت د ریاست له خوا نیول کیږي. د جون په ۱۷ د الجزیري دوه تنه ژورنالستان، دوه ورځو بند څخه وروسته د ملي امنیت د ریاست له خوا خوشې کړای شول. دغه ژورنالستان په دې تور نیول شوي ووچې په شمال کې د یوه راپور په جوړولو کې یې د طالبانو پلوی کړې ده. د دې لپاره چې د خطر اندازه کمه شي، ژورنالستان زیاتره په خپل ځان سانسور لګوي. ډیر شمیر نړیوال ژورنالستان د دوی له افغان همکارانو سره یو ځای اختطاف شوې، چې ډیرای یې وروسته خلاص شوي دي.

د ملګرو ملتونو او نادولتي موسسو کارمندان هم د بیرونو نښاني ګرځیدلی دي او په څو قضیو کې وژل شوي هم دي. ډیر کارمندان چې د کار ځایونو او کورونو په منځ کې تګ راتګ کوي د خپل کار ځایونه نه ښیي. ډیری خپل د هویت کارتونه نه ګرځوي چې د دوی د کار ځای ښیي او ډیری یې له دې ویرې چې غچ ورڅه اخیستل کیږي خپلو کورنیو او د ټولنې غړو ته د خپلو کارونو اصلي نوعیت نه څرګندوي.


## III. حکومت پلوه ځواکونه

### حکومت پلوه ځواکونه او ملکي تلفات


حکومت پلوه ځواکونه (افغان ملي امنیتی او نړیوال پوځي ځواکونه) د ۵۹۶ ثبت شویو وژنو مسوول دي، دا په ۲۰۰۹ کې د ثبت شویو ملکي تلفاتو ټولټال ۲۵ سلنه په ډاګه کوي. دا ارقام د ۲۰۰۸ د ۸۲۸ وژنو څخه نږدې ۲۸ سلنه ټیټوالی ښيي. دغه کموالی د نړیوالو پوځي ځواکونو د نیول شویو دوامداره تدبیرونو په پایله کې رامنځته شوي څو د پوځي ځواکونو له خوا د پوځي عملیاتو د ترسره کولو کې ښه والی راشي او په ملکي کسانو د جګړې اغیزې کچه راکښته کړي.

د حکومت پلوه پوځي علمیاتو په زمینه کې د هوایي بریدونو په ترځ کې نږدې ۳۵۹ (۶۱ ٪) ملکي تلفات رامنځ ته شوي دي. د تلاشي او نیولو په عملیاتو کې د ملکي کسانو د تلفاتو د اندازی دوهم لوړ شمیر یعني (۱۶ ٪) ښئی او ۹۸ کسان له منځه تللی. د دغو تاکتیکونو په نتیجه کې د ملکی کسانو ۷۷ ٪ تلفات ثبت شوی چې حکومت پلوه ځواکونو ته منسوبیږي.

**۵ چارټ: د ملکي وګړو تلفات چې حکومت پلوه ځواکونو ته منسوبیږي، د پېښې د بڼې پر اساس ترتیب شوي.**



**۶ چارټ: د ۲۰۰۷ ، ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ په ترڅ کې حکومت پلوه ځواکونو ته د ملکي کسانو منسوب تلفات**




د نړیوالو پوځي ځواکونو د چلند په هکله د پالیسي د لوړې کچې پریکړو د ملکي کسانو لپاره چې د پوځي شخړو له امله متاثره شوي، د ښه چاپیریال د رامنځ ته کیدو لار هواره کړي. د جولای د میاشتې د دوهمې نیټې تخنیکي لارښوونه چې د COMISAF له خوا صادره شوي د ISAF/USFOR-A په ټولو پوځونو د پلی کیدو وړ ده، کومه چې د ملکي کسانو د تلفاتو د کچې د ټیټیدو په موخه رامنځ ته شوي ده. دا لارښوونه د خلکو د اوسیدلو په ځایونو او مزدحمو سیمو کې د نږدې هوايي ملاتړ د قوي کارول محدودوي. د اوسیدني د ځایونو، کورونو او مذهبي ځایونو د تلاشي د عملیاتو لارښوونه له سره کتل شوي، چې اوس دا عملیات د افغان ملي امنیتي ځواکونو په ملتیا یا د هغوی له خوا ترسره کیږي.

د ښه شوي وضیعت سربیره، د یوناما د بشري حقونو څانګه د ملکي کسانو د تلفاتو او د افغانانو د توقیف په اړه چې د شپې له خوا د تلاشي ګانو وروسته په نا څرګندو ځایونو کې ساتل کیږي، راپورونه تر لاسه کوي.

**هوايي بریدونه**

حکومت پلوه ځواکونو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو تر ټولو لوړه فیصدي د هوايي بریدونو او نږدې هوايي ملاتړ له امله رامنځ ته شوي. د یوناما د بشري حقونو څانګې ۶۵ پیښې ثبت کړي چې په نتیجه کې یې په ۲۰۰۹ کې د هوايي بریدونو له امله ملکي تلفات رامنځ ته شوي دي. په ټولیز ډول په ۲۰۰۹ کې نږدې ۳۵۹ ملکي کسان وژل شوی چې ۱۵ ٪ د ټولو تلفاتو جوړوي. دغه فیصدي د ۲۰۰۸ د ثبت شویو ارقامو یعنې ۵۵۲ ملکي وژل شویو کسانو په پرتله ټیټه شمیره ده. ښکاري چې دغه تغییر د جولای د میاشتې د دوهمې نیټې د تخنیکي لارښوونو د صادریدلو له امله رامنځ ته شوي چې له مخې یې هوايي بریدونه باید د ډیرو خاصو وضیعتونو په نتیجه کې ترسره شي.

د بالا بلوک د ولسوالی د می د میاشتې د څلورمې نیټې د هوايي برید په پیښه کې د ۶۴ کسانو او د کندوز ولایت د علي اباد ولسوالی د عمرخیلو په کلي کې د سپتمبر د میاشتې د څلورمې نیټې په هوايي برید کې نږدې ۷۴ ملکی کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ. د هوايي بریدونو په لړ کې، د می او جولای میاشتې د ملکي کسانو د تلفاتو په حواله تر ټولو خونړۍ میاشتې وي. په دغو ارقامو کې یو افغان خبریال هم شامل دی چې د پیښې په سیمه کې نیول شوي او بیا د ژغورنې په یوه هڅه کې چې یو بل بهرني خبریال وژغورل شو، ووژل شو.

لکه څنګه چې زموږ د ۲۰۰۹ کال په لومړۍ شپږ میاشتینی خپرونه (۲۰۰۹، جولای) کې یادونه شوې، هوایي بریدونو کې د ټولټال شمیر په پرتله د وژونکو هوایی بریدونو پېښې نسبتا کمې دي، خو اوس هم ددغو بریدونو په نتیجه کې د پام وړ ملکي کسان وژل کیږي. ملکی کسان هغه وخت چې د حکومت پلوه ځواکونو په کاروانونو غلچکي بریدونه ترسره کیږی او هغوی دغو موقعیتونو ته نږدې واقع وي، یا کله چې په هغوی د دولت ضد عناصرو ګمان وشي، نو د شپې له خوا د هوایي بریدونو په خطر کې واقع کیږي.

**د زابل ولایت د میزان په ولسوالۍ کې، د یوه هوایي برید په نتیجه کې د ملکي کسانو تلفات**

د طالبانو د نښه کولو په موخه، د زابل ولایت د میزان ولسوالی د تاخون په کلی کې د جولای د میاشتې په ۲۸ نېټه، د راپور سره سم د ایساف په یوه هوایي برید کې ۶ ملکی کسان وژل شوي چې دوه ماشومان هم په کې شامل دي او نور ۶ تنه ټپیان شوي دي. یوې چورلکې له هغه وروسته چې کله یې په موټر سایکل سپاره طالبان باغ ته د ننوتو پرمهال تعقیبول هوایي برید ترسره کړ چې په نتیجه کې یې هغه ملکي کسان چې د باغ په دننه کې په کار بوخت وه، ووژل شول. ایساف د ۶ ملکی کسانو د وژل کیدو او شپږو ټپیانو تصدیق وکړ.

هوایي بریدونه همدارنګه د حکومت ضد عناصرو پورې تړلې هغه ستونزې ټرګندوي چې د ملکي کسانو په کورونو کې پناه اخلي او یا کله نا کله په قصدي توګه د ملکي کسانو څخه د سپرپه حیث کاراخلي. په یو شمیر مواردو کې چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا څیړل شوي، داسې معلومات تر لاسه شوي چې د حکومت ضد عناصرو یو شمیر مهم کسان په یوځې عملیاتو کې هغه مهال چې په قصدي توګه د خلکو په کورونو کې چې د یاغیتوب سره تړاو نه لري پناه اخلي، په نښه شوي دي. د میلمه پالنې عنعنوي قوانین او د قدرت د توازن نشتوالي هغه کلیوال چې د حکومت ضد عناصرو د قوي موجودیت په سیمو کې ژوند کوي له دې څخه منع کوي چې د حکومت ضد عناصرو یوه قومندان ته د سرپناه د ورکولو څخه انکار وکړي. اطلاعات ښیي چې د حکومت ضد عناصر د دغو فاکټورونو څخه ګټه پورته کوي او غواړي د حکومت پلوه ځواکونو د بریدونو د ویرې څخه د خلاصون په موخه د ملکي کسانو کورونه وکاروي. د انساني ډال/سپر کارول د بشرپالنې د نړیوال قانون د ژمنو څخه سرغړونه ده، ایساف هم دنده لري چې د ملکي کسانو د زیان د کچې د راکښته کیدو لپاره ټول لازم تدبیرونه وکاروي. د حکومت ضد عناصرو له خوا د نړیوال قانون څخه سرغړونه باید ایساف ته دا موقع ور نه کړي چې د نړیوال بشري قانون په وړاندې خپلې ژمنې له پامه وغورځوي.

**د کندز ولایت د علی آباد په ولسوالۍ کې د تیلو د تښتول شویو ټانکرونو په وړاندې هوایي برید**

د سپتمبر د میاشتې په ۳ نېټه، د طالبانو یوې ډلې د تیلو دوه ټانکرونه د کندز - بغلان د لوی لارې په مسیر کې وتښتول. هغوي زیار ایسته څو دغه موټر د علي آباد ولسوالی د علي خیلو کلي ته نږدې د چهاردرې ولسوالۍ ته د کندز د سیند څخه ها خوا واړوي. لارۍ موټرونه د سیند په تل کې ونښتل او کله چې یاغیان د موټرونو د ایستلو په چارو کې پاتې راغلل نو نږدې کلیوالو ته یې د تیلو د وړلو بلنه ورکړه. لکه څنګه چې کلیوال د تیلو په راکښلو بوخت وو، څو ساعته وروسته د سهار په لومړیو ساعتونو کې د سپتمبر د میاشتې په ۴ نېټه یو هواي برید ترسره شو. د انفجار په نتیجه کې د څیړنو کار پیچلې شو، زیات شمیر خلک سوځیدلی وو او پیژندګلوي یې خورا ستونزمنه وه، په دې کې هیڅ شک نشته چې د حادثې په سیمه کې ځینې طالبان موجود و، خو دا باید په ډاګه شوی وای چې لارۍ موټرونو ته نږدې زیات ملکي کسان هم موجود و. د یوناما د بشري حقونو د څانګې د څیړنې پر اساس د یو شمیر ماشومانو په شمول نږدې ۷۴ ملکی کسان وژل شوي. د یوناما د بشري حقونو د څانګې د مکررو غوښتنو سربیره، د ایساف د ملکي تلفاتو د معلوموملو څانګې د خپل راپور غیر محرمانه بڼه خپره نه کړه او همدارنګه یې غوښتل شوي ویډیو فلم هم خپور نه کړ. د دغه هوایي برید په نتیجه کې د جرمنی د هیواد یو شمیر لوړ پوړي چارواکي له هغه وروسته چې د ملکي کسانو د وژل کیدو او ټپي کیدو په اړه اطلاعات یې نه وه خپاره کړي، استعفا ته اړ شول.

دا د یوناما د بشري حقونو د څانګې لپاره د اندیښنې خبره ده چې د هوایي بریدونو زیاتره قربانیان چې دا بریدونه د هغوي د کورنیو د غړو د وژل کیدو، ټپي کیدو، او د هغوي د جایداد د له منځه تلو باعث شوي، د هوایي برید له عواملو څخه خبر نه دي. هغوي ته په دې هکله چې دغه برید چا تر سره کړی معلومات نه دي

ورکړل شوي. د اطلاعاتو نه شتون او د متاثره شویو ټولنو سره د رونو اطلاعاتو د برابرولو په برخه کې د پاتې راتلو له امله د معافیت په هکله ادعاوو لپاره لار هواروي او ګواکې چې مرتکبین مسوول نه ګڼل کیږی.

**د پوځي اډو موقعیت**

د یوناما د بشري حقونو څانګې په یو شمیر خپلو راپورونو، مطبوعاتي ناستو او خبرو اترو کې د ملکی کسانو د سیمو د دننه یا هغو سیمو ته څیرمه چې ملکی کسان په کی استوګن دي، د پوځي اډو د موقعیت د مسالې په هکله خپلې اندیښنې څرګندې کړي. د استوګنې په سیمو کې د نړیوالو پوځي ځواکونو شتون لا هم یوه ستره اندیښنه ده. دغه کار د نړیوال بشرپالنې د اصولو سره ټکر دی چې موخه یې د هغو خطرونو په وړاندې دملکی خلکو ساتنه ده چې له پوځي عملیاتو څخه راولاړیږي.

کله چې پوځي اډې د استوګنې د سیمو د ننه یا هغوی ته څیرمه (ښاري یا کلیوالې) سیمو کې جوړې شي د پوځي ډلو یا د نړیوالو پوځي ځواکونو د متقابل عمل د ممکنه بریدونو له امله اضافي امنیتي ګواښ سره مخ کیږي. کیدای شي د نړیوالو پوځي اډو شتون د ملکي کسانو په منځ کې خشونت ته لار هواره کړي په خاص ډول که چیرې د هغوی د شتون له امله د ملکي تلفاتو شمیره لوړه شي.

د یوناما د بشري حقونو څانګې د حکومت ضد عناصرو له خوا د ایساف د اډو په وړاندې د راکټونو د توغولو یو شمیر بریدونه چې پر خپل هدف نه دي لګیدلي ثبت کړي دي. په یو شمیر زیاتو مواردو کې دغه راکټونه په خالي ځمکو کې راکښته شوي دي. په یو شمیر ثبت شویو پیښنو کې، کوم راکیټونه چې د حکومت ضد عناصرو له خوا توغول شوي، د خپل هدف په نه ویشتلو سره په ملکي کورونو کې لګیدلي او د کورونو اوسیدونکو ته یې مرګ ژوبله اړولې. د مۍ په میاشت کې په یوه ورته پیښه کې د کنړونو د اسمارو د ولسوالۍ یو ښوونځي چې د نړیوالو ځواکونو د اډې څخه د یوه کلیومتر په واټن کې پروت دی د حکومت ضد عناصرو په راکټ چې موخه یې د نړیوالو ځواکونو اډه وه، ولګید. د دې په نتیجه کې د ښوونځي اته تنه نجونې او یو ښوونکی ټپي شو. د یوناما د بشري حقونو څانګې همدارنګه یو شمیر داسې زیاتې قضیې ثبت کړي چې ایساف په هغو سیمو باندې چې ګمان کیده حکومت ضد عناصرو ورڅخه بریدونه ترسره کړي د استوګنې په سیمو راکټي بریدونه کړي چې په نتیجه کې یې خلکو ته زیات تلفات اوښتي. د یوناما د بشري حقونو څانګه د حکومت ضد عناصرو د شکمنو ځایونو په ځواب کې چې کلیو ته نږدې واقع دي د ایساف د متقابلو بریدونو په اړه چې زیاته مرګ ژوبله رامنځ ته کوي، زیاته اندیښنه لري. د حکومت پلوه ځواکونو له خوا هر ډول عمل باید په خاص ډول چې کله د مزدحمو سیمو څخه د راکټونو د بریدونو په تړاو غبرګون ترسره کیږي،د تناسب او توپیر اصول په پام کې وساتي. په ملکي کسانو د پوځي قوي د استعمال په تړاو باید د هر عملي احتیاط د کارولو څخه ډاډ حاصل شي څو اوسیدونکو ته مرګ ژوبله وا نه وړي.

<u>**په کابل کې د ایساف د مرکزي دفتر د عمومي دروازې په مخ کې موټربم برید**</u>

د اګست د میاشتې په ۱۵ نېټه، یو کس په چاودیدونکو توکو بارخپل موټرسره پدې وتوانید چې د شدیدو امنیتي موانعو څخه تیر او د ایساف د مرکزي دفتر په عمومي دروازه کې چې د کابل ښار د مرکز په یوه ساتلي ځای کې چې زیاتره نړیوال او داخلي سازمانونه په کی موقعیت لري، خپل موټر وچاوه. د طالبانو د یوه ویاند په حواله چې د دې پیښې مسوولیت یی په غاړه واخیست، پدې پیښه کې نږدې ۵۰۰ کیلو ګرامه چاودیدونکي توکي کارول شوي و. د یوناما د بشري حقونو د څانګې د څیړنو مطابق، په دې پیښه کې ۷ تنه وژل شوي او نږدې ۹۰ تنه نور ټپیان شوي دي.

که څه هم د ایساف او افغان امنیتي ځواکونو ډیری اډې د ښاري سیمو څخه د باندې واقع دي، خو وروستي تمایل دا دي، چې کوچنۍ اډې د افغان ملي امنیتي ځواکونو او کله نا کاله د ولایتي ملکي چارواکو سره، لکه بازارونه، چې معمولا د استوګنې او تجارتي سیمو په زړه کې واقع دي، نږدې ځای پرځای کړي، د داسې اډو د موقعیتونو د انعکاس په نتیجه کې، د ملکی کسانو لپاره د امنیتی خطرونو د زیاتیدو په شمول د اضافي تلاشیو سربیره د ملکی کسانو خوځښت له محدودیت سره مخ کیږي چې په نتیجه کي د متاثره شویو وګړو لپاره یو لړ ستونزې راپیدا کوي. حکومت پلوه ځواکونه او د حکومت ضد عناصر دواړه مسوولیت لري چې په ملکي کسانو د شخړو د اغیزو کچې راکښته کړي. د ملکي سیمو څخه لیرې د پوځي اډو ځای په ځای کول به په ملکي کسانود شخړو اغیزې راکمې کړي او همدارنګه د دغو بریدونو په نتیجه کې به د مرګ ژوبلې شمیر هم راټیټ کړي.

**د نیمروز ولایت د لارام ولسوالۍ په بازار کې د امریکایي سمندري ځواکونو اډه**

د متحده ایالاتو د سمندري ځواکونو یو ټولګی د نیمروز ولایت د دلارام ولسوالی د بازار په سیمه کې د ولایتي اداري سره یو ځای په یوه کوچنۍ اډه کې میشت دي. د هغو د شتون په اړه د ټولنې سخت مخالفت راولاړ شوی. ځایی مشرانو او چاراواکو د سمندري ځواکونو د شتون په اړه شکایت کړي، هغوي فکر کوي چې د سمندري ځواکونو شتون ځایي وګړو ته زیان پیښوي. د هغوي شتون د ټولنې د غړو لپاره د بې ځآیه او غیر ضروري تلاشیو لامل ګرځي، چې کله هغوي د ولسوال سره لیدنې ترسره کوي، د دې اډې شتون په هغوی د ځانمرګې بریدونو د ترسره کولو لپاره او همدارنګه د حکومت ضد عناصرو له خوا د نړیوالو ځواکونو لپاره د جاسوسي په تور د ټولنې د هدف نیولو د خطر احتمال هم زیاتوي. د یوناما د بشري حقونو څانګې دغه اندیښنې په ولایتي او ملي دواړو کچو مطرح کړي. د اکتوبر په میاشت کې په کابل کې د ایساف د لوړ رتبه چاراواکو سره په یوه ناسته کې، د یوناما د بشري حقونو څانګې دی مسالې ته د حل او د اډې د تړلو په هکله داډ ورکړل شو. د یوناما د بشري حقونو څانګې ته د لا زیاتو څیړنو په ترڅ کې معلومه شوه چې د ډسمبر د میاشتې تر پایه پورې هم اډه په خپل حال پاتې او فعالیت یې کاوه.

د بشرپالنې د نړیوال قانون سره سم، د شخړې ښکیلې خواوې باید ترممکنه حده د ملکي کسانو د مزدحمو سیمو د ننه یا هغو ته څیرمه سیمو کې د پوځې اډو د ځای پر ځای کیدو څخه ډډه وکړي. دغه ژمنه په نړیوالو ځواکونو او حکومت ضد عناصرو دواړو چې په مکرر ډول د استوګنې په ځایونو کې ځان ځایوي، د تطبیق وړ دی.[5]

**د تلاشي او نیولو عملیات**

د شپې له خوا د بریدونو او تلاشیو پرمهال د حکومت پلوه ځواکونو کړنې، په خاص ډول د زیاتې قوی د کارونې په نتیجه کې چې کومه مرګ ژوبله رامنځ ته کیږي، د زیاتې اندیښنې وړ ده. د یوناما د بشري حقونو څانګې د دغو عملیاتو په نتیجه کې نږدې ۹۸ ملکي کسانو وژل (۱۶ ٪) ثبت کړي. دغه اندیښنې د ناوړه سلوک، د تیرې څخه د ډکو کړو وړو او کلتوري ناوړه چلند، په خاص ډول د ښځو په وړاندې، ادعاوې احتوا کوي. د دې کړنو په نتیجه کې د هیواد په کچه یو شمیر لاریونونه ترسره شول څو د دغه ډول کړنو په اړوند احتجاج او اعتراض وکړي، په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو د شتون او د ملکی کسانو د تلفاتو په اړوند د پارلمان په دواړو مجلسونو کې خبرې اترې پیل شوې. د خوست ولایتي شورا د اپریل په میاشت کې د شپې له خوا د تلاشي په غبرګون کې چې په نتیجه کې یې د ادعا له مخې څلور ملکی کسان ووژل شول، اعتصاب وکړ. د لغمان او ننګرهار په ولایتونو کې، د ډسمبر د میاشتې د ۸- ۹ نیټو ترمنځ څو لاریونونه ترسره شول څو د لغمان ولایت د مهترلام په ولسوالی کې د شپې له خوا د تلاشي په وړاندې چې د نړیوالو ځواکونو له خوا ترسره شوي، احتجاج وکړي. حکومت ضد عناصرو هم په خپل وار د تلاشیو په تړاو د خلکو د غوسې او احساساتو څخه ګټه پورته کړې. د اکتوبر په میاشت کې د وردګو په ولایت کې د تلاشي په حواله د پاک قران العظیم د بې حرمتې د نه اثبات شویو ادعاوو په نتیجه کې، حکومت ضد عناصرو د هیواد په کچه وکولای شو د عامه احساساتو څخه ګټه پورته کړي، د هیواد په ۵ سیمو کې ۱۵ لاریونونه ترسره شول چې ددغو سیمو له جملې څخه ۶ په کابل کې وه. د یوناما د بشري حقونو څانګې د نړیوالو ځواکونو له خوا د ملکي کسانو د وژل کیدو او د شپې له خوا د تلاشیو پر ضد د هیواد په کچه یو زیات شمیر لاریونونه ثبت کړي دي.

د تلاشیو او نیولو د عملیاتو پرمهال، د ایساف د ځواکونو له خوا د سلوک/کړنو په ترسره کولو کې د ښه والی د رامنځ ته کیدو یادونه شوې او په همدې ډول دغه عملیات باید د افغان ملي امنیتي ځواکونو سره په همغږۍ کې ترسره شي. دغه پرمختګ د هغو بریدونو په ترسره کولو سره چې د نړیوالو ځواکونو او افغان خاصو ځواکونو او یا نورو حکومتي نهادونو له خوا ترسره کیږي، کمزوری کیږی. د دغو بریدونو په نتیجه کې اکثراً د زیاتې قوې د استعمال او ناوړره سلوک څخه کار اخیستل کیږي او مرګ ژوبله هم رامنځ ته کوي. دغه ځواکونه اکثراً د لږې یا هیڅ ډول حساب ورکونې پرته (کم یا پوره معافیت) عملیات ترسره کوي او د نړیوالو پوځي ځواکونو د شتون په حواله د ټولنې غوسه او خپګان زیاتوي.

**د غزنی په مرکز کې د شپې د تلاشیو عملیات: د ملکی کسانو وژل او په هغوی یرغل**

د اکتوبر د میاشتې په ۱۶، د غزنی د مرکز د منګور په سیمه کې، د نړیوالو ځواکونو له خوا د شپې د تلاشي په عملیاتو کې څلور ملکي کسان وژل شوي چې یوه ۱۰ کلنه نجلې هم په کې شامله وه. نړیوال پوځي ځواکونه او افغان ملي امنیتي ځواکونه د شپې په تیاره کې یوه کلی ته ننوتل او د راپور مطابق یې ۵ کورونه تلاشي کړل او یوه کور ته یې د ننوتو پرمهال دړې کړې. د دړو په نتیجه کې یو ۷۰ کلن سړی، د نوموړي ۶۰ کلنه ښځه، د هغوي ۳۵ کلن زوی او ۱۰ کلنه لمسۍ ووژله شوه. په همدې وخت کې په یوه بل کور کې د نړیوالو ځواکونو یوه سرتیري د یوه سړي لاسونه د هغه تر شا ور وتړل. د خپل ورور او دوو ۱۷ کلنو زامنو سره یو ځای نږدې ښوونځي ته یوړول شول، او د هغوي د ویلو مطابق د یوه طالب قوماندان د ځای د معلومولو په هکله د پوښتنو پرمهال ژوبل شوي دي. نوموړی سړی او د هغه ورور د یرغل په نتیجه کې سخت ټپیان شوي دي. لږ څه وروسته څو نارینه، د یوه ۱۳ کلن ماشوم په شمول چې لاسونه یې تر شا تړل شوي وه ښوونځي ته وړل شوي او د هغوی سره د ورته پوښتنو پرمهال بد چلند شوی. د نړیوالو پوځي ځواکونو او افغان ملي امنیتي ځواکونو د تللو څخه وروسته کلیوالو هغه دواړه ډلې چې لاسونه یې ترشا تړل شوي وه، راخوشي کړي. د اکتوبر د میاشتې په ۱۸، د کلي د استازیو، ولایتي چارواکو او نړیوالو پوځي ځواکونو ترمنځ د یوې ناستې پرمهال نړیوالو ځواکونو ومنله چې دوی ناسم معلومات ترلاسه کړي وه.

دا د یوناما د بشري حقونو د څانګې لپاره د اندیښنې وړ ده چې د توقیف او نیول شویو کسانو په اړه د هغوی کورنیو ته د هغوی د ځای او موقعیت په هکله اطلاع نه ورکوله کیږي، په خاص ډول هغه وخت چې کله دوی په داسې ځایونو کې ساتل کیږي چې د توقیف شویو کسانو کورنی د آی سی آر سي دفتر ته لاس رسي نه لري. د یوناما د بشري حقونو د څانګې یو شمیر داسې قضیې ثبت کړي چې په کې کورنۍ د خپلو بندیانود ځای د پوښتنې په هکله ایساف ته رسیدګي لري. خو په داسې حالاتو کې، هغوی په دې نه دی توانیدلی چې د عملیاتو اډو ته چې د دوی کلیو ته نږدې موقعیت لري، لاس رسي پیدا کړي، نه پوهیږی چې د ایساف د ځواکونو په دننه کې د چا سره اړیکه ټینګه کړي چې د خپلو خپلوانو په اړه معلومات تر لاسه کړي او اکثره د اډو له دروازو څخه بیرته شاتګ ته اړ شوي دي. د یوناما د بشري حقونو څانګه د ایساف څخه غوښتنه کوي چې د توقیف شویو کسانو کورنیو ته د هغوی د پتې په هکله ژر تر ژره خبر ورکړي. زیاتي ټولنې د نړیوالو پوځي ځواکونو د عملونو د حساب ورکونې نشتوالی ته د معافیت په سترګه ګوري. کله چې د پیښو په هکله څیړنې نه کیږي او مرتکبین د عدالت میز ته نه راکښکل کیږي، ټولنې او نور کسان د هغو عملونو لپاره چې د بشرپالنې او بشري حقونو د نړیوالو قوانینو پر خلاف د نړیوالو پوځونو له خوا ترسره کیږی او هغوی مسول نه ګڼل کیږي د شک په سترګه ګوري.

**د روغتیایي تاسیساتو په وړاندې بریدونه او تلاشي**

د شخړو له امله د روغتیایي تاسیساتو د متاثره کیدو په هکله هم راپورونه رارسیدلي دي. روغتیایي مرکزونه په وسله واله جګړه کې اساساً خوندي دي، ځکه چې دغه مرکزونه د ملکی هدفونو په څیر پیژندل شوي. د هغو استثناوو پرته چې دا ډول روغتیایي مرکزونه د ښکیلو خواوو له طرفه د پوځي فعالیتونو لپاره د یوې اډې په حیث کارول کیږي. حتی که چیرې دا مرکزونه د پوځي موخو لپاره هم وکارول شي، د تناسب او توپیر اصول باید په ځای پاتې شي. یو ملکی روغتون د بشرپالنې د نړیوال قانون لاندې د دې په خاطر چې ناروغه او ټپی جنګیالي په کې بستریږي د ساتنې حق له لاسه نه ورکوي. د اګست د میاشتې د ۲۶ نېټې په یوه پیښه کې د پکتیکا د ولایت د سرحوزې په ولسوالی کې یو کلنیک هغه مهال د حکومت پلوه ځواکونو له خوا بمباری شو چې د طالبانو یوه قومندان او دوو نورو حکومت ضد عناصرو ته درملنه ورکول کیده. د دې په نتیجه کې کلنیک یوه اندازه زیان ولید او ملکي تلفات ثبت شوي دي. په یوه بله ورته پیښه کې د میدان وردګو ولایت د سید آباد ولسوالی یوه روغتیایي مرکز ته چې د یوې موسسې له خوا اداره کیده، نړیوال پوځي ځواکونه ننوتي. د راپورونو سره سم، ځواکونه ټولو خونو ته ننوتي، او د یاغیانو د لټون لپاره د ننوتو په وخت کې یی د قوې د استعمال څخه کار اخیتسی او کلینیک ته یې تاوان رسولی. په دې پیښه کې هیڅوک نه دی نیول شوی خو د تلو په وخت کې یې روغتیایي کارکوونکو ته ویلی که چیرې یاغیان د درملنې په موخه کلنیک ته مراجعه وکړي نو په دې هکله دې ایتلافي ځواکونو ته خبر ورکړي ترڅو دا معلومه کړي چې هغوی تر درملنې لاندې ونیول شي او که نه. د دغې پیښې په پایله کې کلنیک د دریو ورځو لپاره وتړل شو. ایساف د کلنیک د تلاشي پیښه تایید کړې خو ادعا کوي چې کلنیک ته د ننوتو د مخه یې اجازه تر لاسه کړی وه او دا هغه ادعا ده چې صحت یې د یوناما د بشري حقونو څانګه نه شي معلوموﻻی.

**د ارزګان په ولایت کې د ترینکوټ ولایتي روغتون تلاشي شو**

د اپریل د میاشتې په ۱۲، د ایساف ځواکونو د ترینکوټ روغتون له هغه وروسته تلاشي کړ چې د ترلاسه شویو معلوماتو مطابق په روغتون کې ټپي طالبان تر درملنې لاندې نیول شوي وو. د ایساف د بیان مطابق یوازې ۴- ۵ کسانو په دې تلاشي کې برخه درلوده، خو د یوناما د بشري حقونو د ځانګې د ثبت له مخې نږدې ۴۰ وسله وال سرتیري په ۵ زغره والو موټرونو کې روغتون ته ورغلي او د روغتون ټولې خونې او برخې یې تلاشي کړې دي. که څه هم چې ایساف ویلي، چې روغتون ته د ننوتو اجازه یې تر لاسه کړې وه، د یوناما د بشري حقونو ځانګه د دغه بیان تصدیق نشي کولای. د یوناما د بشري حقونو ځانګې ته راپورونه رسیدلي چې د ښځو برخې ته نارینه سرتیري ننوتي. روغتیایي کارکوونکو ته اجازه نه وه ورکړل شوې چې د هغو ناروغانو سره مرسته وکړي چې بیړنۍ پاملرنې ته یې اړتیا درلوده او ځینو ناروغانو ته بیا د تلاشي په دوران کې روغتون ته د ننوتو اجازه نه وه ورکړل شوې. د تلاشي په نتیجه کې، هغو روغتیایی کارکوونکو چې په دې روغتیایي مرکز کې یې کار کاوه وویل، دغه کار روغتون د کار کولو لپاره په یوه نا امنه ځای تبدیل کړ او اوس به دا ډیر مشکل کار وي چې ښه تعلیم لرونکي خلک دغه روغتیایي مرکز ته راجلب شي.

**حساب ورکونه/د خساراتو جبران**

د یوناما د بشري حقونو ځانګې د ملکي تلفاتو په هکله د ۲۰۰۸ کال په خپل کلني راپور کې، د ملکي تلفاتو او جایدادونو د تاوان، په خاص ډول هغه ملکي تلفات چې د نړیوالو پوځی ځواکونو په عملیاتو پورې منسوبیږي، او د شخړو د دواړو ښکیلو خواو و د انګیږل شوي معافیت په اړه د خلکو د مخ پر زیاتیدونکی خپګان یادونه کړې.

د قوماندې په جوړښت کې د بدلونونو سره اوس د ایساف او د افغانستان د متحده ایالاتو پوځونه د COMISAF تر قوماندې لاندې راغلي، د نړیوالو پوځي ځواکونو د کړنو د ښه والي او همدارنګه د پیښو د حساب ورکونې په برخه کې چې ملکي تلفات رامنځ ته شوي وي، مثبت تدبیرونه نیول شوي دي. د بیلګې په توګه، د سپتمبر د میاشتې د څلورمې نېټې د کندز د هوایي برید څخه وروسته، د څیړنو دوو ټیمونو، د ابتدایي تحلیل ګډ ټیم او عملیاتي څیړنو ټیم په کار پیل وکړ. جنرال مک کرسټال د سپتمبر د میاشتې په ۵ نېټه د سیمې څخه لیدنه وکړه څو د برید له ځای څخه لیدنه وکړي او د هوایي برید د قربانیانو سره وګوري.

سره له دې هم اړتیا لیدل کیږي چې د بیلا بیلو امنیتي ځواکونو ترمنځ، په خاص ډول د هغو ځواکونو ترمنځ چې د ایساف د کنترول د ساحې څخه د باندې عملیات ترسره کوي، ښه همغږي رامنځ ته شي. د دغه ډول همغږي پرته، د حکومت پلوه او نورو دولتي نهادونو د حساب ورکونې د نه شتون له امله به دا په یوه ستره اندیښنه تبدیله شي. یو شمیر زیاتو کورنیو چې د ایساف/افغان ملی امنیتي ځواکونو د عملیاتو په ترڅ کې قرباني شوي دي، شکایت لري چې په سیمه کې یې قومندانانو ته د لاس رسي موقع نه ده تر لاسه کړي. کله چې دا کسان د خسارې د جبران غوښتنه کوي، هغوی حتی په دې نه پوهیږي چې د چا سره خپلې پوښتنې او شکایتونه مطرح کړي. په دې مسله باندې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو لپاره د عالي کمشنرۍ له خوا د جولای په میاشت کې په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې هغه مهال کله چې نوموړی خپله شپږ میاشتنۍ څیړونه وړاندې کوله تاکید وکړ او و یې ویل: "په دې شخړه کې باید ټولې ښکیلې خواوې د ملکي کسانو د ساتنې په موخه ټول تدبیرونه اتخاذ کړي، او د ټولو ملکي کسانو د تلفاتو د خپلواکې څېړنې او همدارنګه د عدالت او د قربانیانو لپاره د خسارې د جبران څخه ډاډ حاصل شي."

د یوناما د بشري حقونو ځانګه د ایساف له خوا د اندیښنې وړ بیلا بیلو مسالو ته د ځواب ویلو په موخه، په ۲۰۰۸ کې د ایساف او (او ای ایف) په د ننه کې د ملکي کسانو د تلفاتو د معلوموملو د واحدونو د جوړولو په شمول د ټولو هڅو ستاینه کوي. د ښه پیل سربیره، د معلوماتو د معلوموملو واحد په دې وروستیو کې د یوناما د بشري حقونو د ځانګې د غوښتنو په ځواب کې او د هیڅ چاراوکي سره د حقیقي مسالو په هکله د برخې اخیستنې په چارو کې مثبت نه دی ثابت شوی. د ملکي کسانو د تلفاتو د ملعوموملو د واحد د ښه کولو لپاره باید ریښتنې هڅې ترسره شي څو د ملکي تلفاتو د پیښو په وړاندې لا زیات ځواب ویونکي وي.

د همدردۍ د تادیاتو مساله د یوناما د بشري حقونود ځانګې او نمایندګیو ترمنځ د ګروپي ساتنې له خوا مطرح شوې ده. اوس هم د بیلا بیلو هیوادونو ترمنځ یو ډول معیارونه، طرز العملونه یا حتی زماني مسیر موجود نه

دی او د دغو هیوادونو د تادیاتو میکانیزم د افغانانو ترمنځ ګډوډي، اندیښنه او غوسه رامنځ ته کوي. د نمایندګیو ترمنځ د ګروپي ساتنې یولیک چې نیټه یې د اګست د میاشتې ۹ ته غځیږي د جنرال مک کرستل پاملرنې ته یو شمیر اندیښنې وړاندې کړي، په دې اندیښنو کې د تشخیص او خساري د جبران د درک کولو لپاره او د همدردي د موجوده میکانیزمونو د لا روښوالی او د خساري د جبران د ورکولو لپاره د یوه متحد او جامع میکانیزم او همدارنګه د یوه همغږي او عادلانه روش پر سر تاکید شوي.

## IV. پایلې

افغانانو په وار وار امنیت د خپل مبرم لومړیتوب په حیث پیژندلی. لکه څنګه چې پوځي شخړو خپل څادر وغځاوه او وسعت یې پر زیاتیدو شو، د امنیت مساله، بلکه د امنیت نه شتون د یو شمیر زیاتو افغانانو لپاره د زیاتې اندیښنې وړ خبره شوه. هغه تاوان چې په وسله والی جګړې پورې تړلې، که څه د پوځي عملیاتو په نتیجه کې په غیر عمدي ډول منځ ته راغلی وي او یا د بې تشخیصه هدفونو نتیجه وي، ملکی قربانیان چې دغه تاوان ورته پیښ شوي دي، اړ دي چې تر زیاتې اندازې پورې خپل تاوانونه او د معیشت وسایل برابر کړي، پرته له دې چې د جبران کولو امید ولري او یا  دا یقین ورسره پیدا شي چې دوی ته اړول شوی تاوان به بیا نه تکراریږي.

په ۲۰۰۱ کې د طالبانو د رژیم د نسکوریدو وروسته، ۲۰۰۹ تر ټولو خونړی کال و. له هغه وروسته چې په ۲۰۰۷ کې یوناما د ملکي کسانو د تلفاتو سیستماتیک ریکارډ نیول پیل کړل، د ملکی کسانو د وژل کیدو او ټپي کیدو زیاتې پیښې یې کتلې دي. د پخوا په پرتله اوس د شخړو له امله ډیر کسان متاثره شوي دي. په ۲۰۰۹ کې د سره صلیب نړیوالې کمیټې له خوا په یوه ترسره شوې ارزونه کی په لنډ ډول راغلي، چې په افغانستان کې ډیر کم خلک د پوځي شخړو له امله نه دی متاثره شوي. هغه کسان چې په مستقیمه توګه د شخړو څخه متاثره شوي د وګړو ۶۰ ٪ جوړوي، خو په ټولیز ډول تقریبا هر یو (۹۶ ٪) په یو ډول نه یو ډول یا په شخصي توګه او یا د پوځي شخړو د پراخو پایلو په نتیجه کې متاثره شوي دي.[6]

د ایساف له خوا د ملکی کسانو خوندیتوب او امنیت ته د لومړیتوب ورکولو اعلان شوی ستراتیژي د ستاینې وړ یو پرمختګ دی. لکه څنګه چې د ۲۰۰۹ وروستی میاشتې ښیې، داسې پالیسۍ په رښتیا سره د ټولو ملکی کسانو ساتنه باوري کوي. خو، د وسله والو مخالفینو له خوا د داسې تاکتیکونو د اتخاذولو په اړه چې په نتیجه کې یې ملکي کسانو ته د زیانونو کچه راټیټدای شي، ناتواني او بې میلې د دې سبب ګرځي چې د وژنو عمومي شمیر زیات شي او له دې سره د ملکي تلفاتو شمیر هم زیاتیږي. د نږدې کسانو د له لاسه ورکولو سره د تړلې درد او عذاب سربیره، د کورنۍ د نارینه وو غړو وژل په خاص ډول په نیستمنو او اغیزمنونکو کورنیو کې د انفرادي یا یقیني عایدات چې د کورنۍ د ژوندي پاتې کیدو لپاره مهم دي، د پای ته رسیدو په مانا دی.

په ۲۰۱۰ کې د پوځي شخړو په پیښو کې د زیاتوالی په صورت کې باید ټول شریکباڼي د ملکی کسانو د موثره ساتنې لپاره اقدامات ترسره کړي.

**ضمایم**

لومړۍ ضمیمه

**د اصطلاحاتو توضیح**

دا لاندني اصطلاحات او مخففات په دې اطلاعاتي خپرونه/راپور کې کارول شوي دي:

**AGE:** د دولت ضد عناصر. هغه ټول انفرادي کسان او ډلې دي چې اوس مهال د افغانستان د حکومت او نړیوالو پوځي ځواکونو پر وړاندې په پوځي شخړو کې ښکیل دي. په دې کې هغه کسان چې ځان ته طالبان وایي او همدارنګه هغه انفرادي کسان او ډلې چې د یو شمیر موخو په واسطه تحریک شوی او یو شمیر نښې یې غوره کړې، شامل دي.

**ANA:** افغان ملی اردو

**ANP:** افغان ملي پولیس

**ANSF:** افغان ملي امنیتي ځواکونه. د افغان سرحدي، افغان ملي پوځ، افغان ملي پولیسو او ملي امنیت د ریاست لپاره پراخه اصطلاح ده.

**:BBIED**

**تلفات:** ښایي دوه ډوله وي:

- **مستقیم:** هغه تلفات چې په مستقیم ډول د پوځي شخړو څخه راپورته کیږي او د هغو پوځي عملیاتو په شمول چې د حکومت پلوه (د افغان او نړیوالو پوځي ځواکونو) لکه د قوې د ساتنې د پېښو، هوایي بریدونو، تلاشیو، د نیولو پیښو او د یاغیتوب په وړاندې ترسره کیږي، شاملې دي. په دې کې هغه تلفات هم شامل دی چې د حکومت ضد عناصرو د فعالتیونو لکه عمدي وژنې، VBIED, IED او BBIED (ځمکني ماینونه، دموټرپه وسیله ځانمرګی برید، ځان پورې تړلي چاودیدونکوتوکو په وسیله ځانمرګی برید)او یا د حکومت پلوه ځواکونو سره په مخامخ جګړه کې رامنځ ته کیږي.
- **نور:** دا ډول تلفات په غیر مستقیم ډول د شخړو څخه او د جګړې څخه د پاتې ناچاودو توکو، په بندې خانو کې د مړینو، د طبي پیښیدونکو حالاتو څخه د مړنیې له امله چې د پوځي عملیاتو پر مهال واقع کیږي یا چیرې چې د طبی پاملرنې د لاس رسي څخه مخنیوی کیږي واقع کیږي. په دې کې همدارنګه هغه مړینې شاملې دي چې په روښانه توګه د مسوولیت د نه تعیین کیدو له امله واقع کیږي. په پای کې، په دې کې هغه تلفات هم شامل دي چې د قومونو او یا نژادي شخړو له امله رامنځ ته کیږي.

**ملکي/ غیر نظامي:** هر څوک چې په دښمنیو کې فعاله ونډه نه اخلي. په دې کې ټول ملکي کسان همدارنګه عامه کارکوونکي کوم چې د پوځي موخو لپاره په شخړه کې نه کارول کیږي، ښوونکي، روغتیایي کارکوونکي او هغه کسان چې د عامه خدمتونو په ترسره کولو کې ښکیل دي، او همدارنګه سیاسي او د دفترونو کارکوونکي احتوا کوي، شامل دي. په دې کې همدارنګه هغه سرتیری یا هر بل څوک چې د جګړې د میدان څخه د ټپي کیدو یا د تسلیمیدو یا هم د هر بل لامل له مخې په شخړو کې د فعالی برخې اخیستنې د پایته رسولو له امله وتلی وي، شامل دی. به دې کې ښایي هغه کسان شامل وي چې ملکي پولیس پرسونل یا د پوځ غړی وي چې د یاغیتوب ضد عملیاتو کې د هغوی څخه کار نه اخیستل کیږي.

**ماشومان:** د ماشوم د حقونو په هکله د میثاق مطابق، یو ماشوم د هر بل کس په حیث چې د ۱۸ کلونو څخه ټیټ وي، تعریف شوی، (له ۵- ۱۷ کلونو په شمول). د ماشومانو لپاره د ټپي توب ارقام احتمالا د دې لپاره نه راپوریږي چې د ټپي کسانو لپاره د عمر معلومات زیاتره موجود نه وي یا نه ثبت کیږي.

**COM-ISAF**: د افغانستان د امریکایي ځواکونو او ایساف قوماندان، ایساف ته مراجعه وکړئ.

**د قوی د ساتنې پیښې:** په داسې وضیعتونو کې چیرې چې ملکي کسان د پوځي کارکوونکو له اړخه د خبرتیاوو د پام کې نه نیولو سره او یا کله چې پوځي کاروانونو ته نږدې کیږي او یا د هغوی څخه وړاندې کیږي او د تلاشي په پوستو کې د لارښودنو د پام کې نه نیولو په برخه کې پاتې راځي. کیدای شي د قوی د ساتنې پیښې هغه وخت هم رامنځ ته شي چې کله انفرادي کسان پوځي اډو یا تاسیساتو ته ډیر زیات نږدې شي او د پوځي کارکوونکو له اړخه د خبرتیاوو په تعقیبولو کې پاتې راشي.

**GoA**: د افغانستان حکومت

**د بشرپالنې فضا:** د بشرپالنې د فضا اصطلاح د بې سرحده ډاکټرانو د پخوانی مشر رونی برومن له خوا چا چې دا اصطلاح د ۱۹۹۰ لسزیزې په نیمایي کې د ازادی د یوه فرصت په حیث چیرې چې موږ وکولای شو اړتیاوې و ارزو، په ازاده توګه د ویش او امدادي توکو د کارولو په هکله نظارت وکړو، او وکولای شو په

آزاده توګه د خلکو سره خبرې اترې وکړو، په غټو او روښانه ټکو تشریح کړی، وکارول شوه. د بشرپالنې د چارو د همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو د دفتر د بشرپالنې (اوچا) د عبارت فهرست د بشرپالنې د اصطلاح لپاره کومه خاص وارده نه لرې، خو دا د بشرپالنې د عمل کولو د چاپیریال لپاره د مترادیفې کلمې یادونه کوې. دا د بشر پالنې د نمایندګیو او سازمانونو لپاره کله چې هغوی د بشرپالنې د عمل کولو د یوه مساعد چاپیریال ساتنه کوي، خپل ماموریت اوږدوي، یو کلیدي عنصر دی. دا فهرست داسې بیان ورکوي: "... د بشرپالنې په عملیاتو کې د بې طرفې د کلیدي عمل کولو د اصولو څخه پیروي هغه حیاتي وسیلې وړاندې کوي چې د ډاډ اصلي موخه او هدف یې د رنځ او عذاب له منځه وړل دی، تر لاسه شي. په نتیجه کې د پوځې دندو او نقش څخه د بشري فعالینو د دندو او نقش ترمنځ د یوه روښانه توپیر راوستل د عملیاتو د یوه چاپیریال د جوړولو لپاره یوه تعیین کوونکی فکتور دی او د بشرپالنې سازمانونه کولای شي خپل مسوولیت په اغیزناکه او خونديي توګه ترسره کړي." د اوچا د سوله ساتي عملیاتو د ریاست (ډیکو) د موسسینو راپور د یو ځای شویو ماموریتونو په اړه په ۲۰۰۵ کې خپور شو او په دې کې همدارنګه د بشرپالنې د فضا د ساتلو د اړتیا پر سر ټینګار شوی او د ملکي کسانو او پوځې دندو ترمنځ په توپیر باندې هم تمرکز کړی. د بشرپالنې فضا همدارنګه د ملکي کسانو لپاره د ژوند ژغورلو او ژند ساتلو د مرستو په اړه مفکوره احتوا کوي.

ICRC: د سره صلیب نړیوال کمیټه

**IED:** اصلاح شوي نا چاودہ توکي. یو بم چې د غیر اتومي پوځې عمل څخه پرته جوړ او ځای پر ځای شي. اصلاح شوی نا چاودي توکي کیدای شي د ځانمرګي بمونو لکه VBIED او BBIED او داسې نورو ډولونو په بڼه کې وي.

**پېښې:** چیرې چې د پوځې شخړو له امله ملکي کسانو ته تلفات واوړي. د هغو تلفاتو شمیر چې د جنایي فعالیتونو په ترڅ کې رامنځ ته کیږي د یوناما د ملکي کسانود تلفاتو په راپور کې نه دی شامل.

**IMF:** د نړیوالو پوځې ځواکونو په تشکیل کې هغه ټول بهرني سرتیری چې د ایساف او افغانستان لپاره د متحده ایالاتو د ځواکونو (او ای پی په شمول) څوک چې د ایساف د قومندان (COM-ISAF) تر قوماندي لاندې دی، شامل دي.

**ټپونه:** په دې کې د بیلا بیل جدیت فزیکي ټپونه شامل دي. د ټپونود شدت کچه د یوناما د بشري حقونو په ډیټابیس کې نه دی ثبت شوی. په ټپونو کې د ټکان او رواني ټکان دوسیې نه دي شاملې.

**ایساف:** په افغانستان کې نړیوال سوله ساتي ځواکونه. ایساف د ملګرو ملتونو د منشور د VII څپرکې لاندې د سولې د ټینګښت ماموریت لري. که څه هم چې دا د ملګرو ملتونو ځواک نه دی خو د "رضا کاري یو ایتلاف دی" چې د ۲۰۰۱ کال راهیسې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د واک او صلاحیت لاندې ځای په ځای شوی دي. د ۲۰۰۳ کال په اګست میاشت کې د ملګرو ملتونو او د افغانستان د اسلامي دولت په غوښتنه ناټو د ایساف قومانده په غاړه واخیسته. د ناټو ځواک به اوس حال کې د نږدې ۴۲ هیوادونو د ۶۱،۱۳۰۰ ځواکونو څخه (ټول ۲۸ ناټو هیوادونو په شمول) او همدارنګه ۲۶ ولایتي بیا رغوني له ټیمونو څخه ترکیب شوی دی. د ۲۰۰۸ کال د نومبر د میاشتې راهیسې د ایساف قوماندان د افغانستان د امریکایي ځواکونو د قوماندان په حیث دنده اجرا کوي، خو که څه هم چې د قوماندی کړی بیلې دي.

**ناټو:** د شمال اتلانتیک سازمان. ایساف ته د ناټو سازمان غړي هیوادونه د سرتیرو د ګمارلو اصلي ورکونکي هیوادونه دي، ایساف ته مراجعه وکړئ.

**NDS:** د ملي امنیت ریاست (د افغان حکومت استخباراتي اداره)

**OEF:** د دوامداره آزادی عملیات. د دوامداره آزادی عملیاتو اصطلاح د امریکایي حکومت له خوا په افغانستان کې د جګړې په وړاندې د خپلې برخې اخیستنې لپاره په رسمي توګه وکارولہ. د یادونې وړ ده چې د دوامداره آزادی عملیات د امریکا او افغانستان ګډ عملیات دی او دا عملیات د ایساف د عملیاتو څخه کوم چې د ناټو هیوادونو، د امریکا او نورو سرتیري ورکوونکو هیوادونو په شمول دی، بیل دی. زیاتره امریکایي ځواکونه چې د دوامداره آزادی عملیات لاندې د ۲۰۰۸ کال د اکتوبر د میاشتې راهیسې عملیات ترسره کوي د افغانستان د امریکایي ځواکونو سره یو ځای شوی (لاندې مراجعه وکړئ) چې د جنرال مک کرستل د قوماندی لاندې کار کوي چې په عین حال کې د ایساف قومندان هم دی، ځینې خاص ځواکونه بیا تر بلې جدا قوماندی لاندې هم کار کوي.

OGA (د حکومت نورې نمایندګی) دغه اصطلاح هغو امنیتي فعالینو لکه سی آی ای (د مرکزي استخباراتو نمایندګي) ته چې د منظمې پوځې قوماندې لاندې فعالیت نه کوی راجع کیږي. زیاتره دا روښانه نه ده چې د داسې عناصرو د قوماندی مسوولیت له چا سره وي.

**حکومت پلوه ځواکونه(PGF ):**

- **د افغانستان د حکومت ځواکونه.** هغه ټول ځواکونه چې په ټولو پوځې یا ملیشایي ضد یاغیتوب عملیاتو کې عمل کوي او په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول د افغانستان د حکومت تر کنترول لاندې

دي، دی. په دې ځواکونو کې افغان ملي پوځ، افغان ملي پولیس، افغان سرحدي پولیس، ملي امنیت ریاست شامل دي، خو دا تر دې ځواکونو پورې محدوده نه دي.

- **نړیوال پوځي ځواکونه (IMF)** او OGA

**پي آر ټي:** ولایتي بیا رغوني ټیمونه. دا د ملکی او پوځی پرسونل ټیمونه دي چې د ایساف د سیمه ییزې قوماندې په چوکاټ کې د هیواد په ولایتونو کې د بیا رغوني لپاره کار کوي. د هغوی دنده د ځایې چارواکو سره د بیا رغوني او د سیمې د امنیت د چارو په ساتلو کې مرسته کول دي.

**UNDSS:** د ملګرو ملتونو د خوندیتوب او امنیت ریاست

**د افغانستان امریکایي ځواکونه:** یا "USFOR-A" دا په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو لپاره د وظیفوي قوماندې او کنترول مرکز دی. د افغانستان امریکایي ځواکونو قومانده د جنرال مک کرستل چې په عین حال کې د ناټو/ایساف قوماندان هم دی، په غاړه ده. د دغه نوی ترکیب لاندې چې د ۲۰۰۸ کال د اکتوبر په میاشت کې رامنځ ته شو، امریکایې ځواکونه چې د دوامداره آزادی عملیاتو د یوې برخې په حیث کار کوي، د "USFOR-A" د عملیاتي کنترول لاندې راغلل. د ایساف او OEF د قوماندې کړۍ بیلې او واضح دی او د متحده ایالاتو مرکزی قوماندە د متحده ایالاتو د تروریزم ضد او توقیف شویو کسانو عملیاتو ته دوام ورکوي.

**VBIED:** په وسیله کې تعبیه شوي چاودیدونکي توکي.


## دوهمه ضمیمه

### اضافی ګرافونه

دغه چارټ د هغو کسانو د شمېرې ټولټال ښیي چې په ۲۰۰۹ میلادي کال کې وژل شوي، چې د سیمو، میاشتې او د مسئولې خوا پر بنسټ ویشل شوی دی. د دې چارټ د توضیح لپاره یو شی په یاد ولرئ، په دې چارټونو کې د یوناما له خوا چې د سیمو کوم لیبلونه کارول شوې، په لاندې ډول دي:


مرکزي سیمه: (د کابل، پنجشیر، وردک، لوګر، پروان او کاپیسا ولایتونه)، مرکزي لوړې سیمې: (د بامیانو او دایکندي ولایتونه)، ختیځ: (د ننګرهار، لغمان، کونړ او نورستان ولایتونه)، جنوب ختیځ: (د غزني، پکتیا، پکتیکا، او خوست ولایتونه)، جنوبي: (د هلمند، کندهار، نیمروز، اروزګان، او زابل ولایتونه) شمال ختیځ: (د کندوز، تخار، بدخشان، او بغلان ولایتونه)، شمالي: (د بلخ، سمنګان، جوزجان، سرپل او فاریاب ولایتونه) لویدیځ: (د هرات، فراه، بادغیس او غور ولایتونه). څرنګه چې په مرکزي لوړو سیمو کې ډیرې کمې پیښې ترسره شوې، نو د دې سیمې لپاره کوم چارټ نه دی ترتیب شوی.

**مرکزي سیمه: په ۲۰۰۹ کال کې د راپور له مخې د وژل شویو ملکي کسانو شمېر د میاشتې او مسؤلې خوا پر اساس**





| | Jan | Feb | Mar | Apr | May | Jun | Jul | Aug | Sep | Oct | Nov | Dec |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د حکومت ضد عناصر | 6 | 24 | 6 | 6 | 10 | 10 | 31 | 30 | 26 | 34 | 17 | 13 |
| حکومت پلوه ځواکونه | 2 | 1 | 4 | 9 | 9 | 4 | 2 | 0 | 6 | 6 | 1 | 1 |
| نامعلومې ځواوې | 1 | 2 | 5 | 1 | 5 | 5 | 0 | 1 | 1 | 1 | 0 | 0 |

**ختیځه سیمه: په ۲۰۰۹ کال کې د راپور له مخې د وژل شویو ملکي کسانو شمېر د میاشتې او مسؤولې خوا پر اساس**





| | Jan | Feb | Mar | Apr | May | Jun | Jul | Aug | Sep | Oct | Nov | Dec |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د حکومت ضد عناصر | 11 | 4 | 10 | 3 | 20 | 10 | 12 | 20 | 42 | 16 | 5 | 4 |
| حکومت پلوه ځواکونه | 30 | 1 | 1 | 7 | 0 | 7 | 1 | 3 | 4 | 13 | 3 | 12 |
| ناپېژنده | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 2 | 1 | 0 | 0 |

**شمال ختیځه سیمه: په ۲۰۰۹ کال کې د راپور له مخې د وژل شویو ملکي کسانو شمېر د میاشتې او مسؤولې خوا پر اساس**





| | Jan | Feb | Mar | Apr | May | Jun | Jul | Aug | Sep | Oct | Nov | Dec |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د حکومت ضد عناصر | 0 | 0 | 0 | 1 | 4 | 4 | 11 | 14 | 3 | 8 | 2 | 0 |
| حکومت پلوه ځواکونه | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 2 | 83 | 0 | 0 | 2 |
| ناپېژنده | 3 | 1 | 0 | 0 | 1 | 0 | 1 | 7 | 2 | 1 | 0 | 0 |

**شمالي سیمه: په ۲۰۰۹ کال کې د راپور له مخې د وژل شویو ملکي کسانو شمېر د میاشتې او مسؤولې خوا پر اساس**





| | Jan | Feb | Mar | Apr | May | Jun | Jul | Aug | Sep | Oct | Nov | Dec |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د حکومت ضد عناصر | 1 | 0 | 10 | 0 | 3 | 12 | 9 | 13 | 9 | 2 | 4 | 5 |
| حکومت پلوه ځواکونه | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| نامعلومه | 1 | 2 | 0 | 0 | 2 | 0 | 4 | 0 | 0 | 0 | 2 | 0 |

**جنوب ختیځه سیمه: په ۲۰۰۹ کال کې د راپور له مخې د وژل شویو ملکي کسانو شمېر د میاشتې او مسؤولې خوا پر اساس**





| | Jan | Feb | Mar | Apr | May | Jun | Jul | Aug | Sep | Oct | Nov | Dec |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د حکومت ضد عناصر | 7 | 11 | 14 | 26 | 47 | 41 | 43 | 31 | 17 | 21 | 25 | 12 |
| حکومت پلوه ځواکونه | 3 | 0 | 8 | 4 | 1 | 5 | 3 | 4 | 8 | 4 | 3 | 3 |
| ناپیژنده | 0 | 0 | 0 | 5 | 3 | 3 | 2 | 3 | 3 | 0 | 2 | 4 |

**جنوبي سیمه: په ۲۰۰۹ کال کې د راپور له مخې د وژل شویو ملکي کسانو شمېر د میاشتې او مسؤولي خوا پر اساس**





| | Jan | Feb | Mar | Apr | May | Jun | Jul | Aug | Sep | Oct | Nov | Dec |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د حکومت ضد عناصر | 22 | 41 | 41 | 40 | 81 | 85 | 51 | 171 | 97 | 33 | 47 | 70 |
| حکومت پلوه ځواکونه | 31 | 23 | 15 | 10 | 11 | 7 | 11 | 14 | 17 | 15 | 31 | 30 |
| ناپېژنده | 15 | 18 | 14 | 10 | 3 | 12 | 4 | 4 | 0 | 0 | 4 | 0 |

**لویديځه سیمه: په ۲۰۰۹ کال کې د راپور له مخې د وژل شویو ملکي کسانو شمېر د میاشتې او مسؤولي خوا پر اساس**





| | Jan | Feb | Mar | Apr | May | Jun | Jul | Aug | Sep | Oct | Nov | Dec |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د حکومت ضد عناصر | 1 | 0 | 0 | 4 | 0 | 6 | 12 | 15 | 14 | 0 | 17 | 2 |
| حکومت پلوه ځواکونه | 7 | 21 | 1 | 0 | 66 | 6 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| ناپېژنده | 0 | 0 | 0 | 2 | 5 | 1 | 0 | 0 | 2 | 7 | 2 | 6 |

**افغانستان: په ۲۰۰۹ کال کې د راپور له مخې د ملکي تلفاتو شمېر د میاشتې او مسؤولې خوا پر اساس**




| | Jan | Feb | Mar | Apr | May | Jun | Jul | Aug | Sep | Oct | Nov | Dec |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د حکومت ضد عناصر | 48 | 80 | 81 | 80 | 165 | 168 | 169 | 294 | 208 | 114 | 117 | 106 |
| حکومت پلوه ځواکونه | 73 | 46 | 29 | 30 | 87 | 47 | 18 | 24 | 118 | 38 | 38 | 48 |
| ناپیژنده | 20 | 23 | 19 | 18 | 19 | 21 | 11 | 15 | 10 | 10 | 10 | 10 |

**افغانستان: په ۲۰۰۸ کال کې د راپور له مخې د ملکي تلفاتو شمېر د میاشتې او مسؤولې خوا پر اساس**




| | Jan | Feb | Mar | Apr | May | Jun | Jul | Aug | Sep | Oct | Nov | Dec |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د حکومت ضد عناصر | 37 | 137 | 45 | 94 | 104 | 78 | 188 | 129 | 89 | 115 | 90 | 54 |
| حکومت پلوه ځواکونه | 15 | 27 | 70 | 37 | 53 | 74 | 119 | 203 | 51 | 74 | 72 | 33 |
| ناپیژنده | 4 | 4 | 7 | 5 | 7 | 20 | 16 | 9 | 22 | 5 | 14 | 17 |

**ملکي مرګ ژوبلې چې د حکومت مخالفو عناصرو ته يې نسبت کېږي او د تاکتيک او مياشتې پر بنسټ ويشل شوی**




| | Jan | Feb | Mar | Apr | May | Jun | Jul | Aug | Sep | Oct | Nov | Dec |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بريدونهIED | 16 | 37 | 42 | 21 | 55 | 88 | 100 | 187 | 100 | 47 | 36 | 44 |
| خانمرګي بريدونه | 20 | 25 | 13 | 27 | 46 | 22 | 5 | 22 | 41 | 27 | 26 | 7 |
| اعدامونه او ترور | 8 | 14 | 10 | 22 | 26 | 14 | 23 | 28 | 30 | 20 | 19 | 11 |
| د حکومت ضد عناصرو نور تاکتيکونه | 4 | 4 | 16 | 10 | 38 | 44 | 41 | 57 | 37 | 20 | 36 | 44 |

**ملکي مرګ ژوبلې چې حکومت پلوو عناصرو ته يې نسبت کېږي او د تاکتيک او مياشتې پر بنسټ ويشل شوی**




| | Jan | Feb | Mar | Apr | May | Jun | Jul | Aug | Sep | Oct | Nov | Dec |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| هوایی برېدونه | 25 | 26 | 12 | 15 | 82 | 31 | 9 | 11 | 92 | 18 | 23 | 15 |
| تلاشي/ | 38 | 15 | 10 | 10 | 0 | 2 | 2 | 2 | 5 | 7 | 4 | 3 |
| د ځواکونو برید شمیر زیاتول | 3 | 2 | 3 | 1 | 4 | 3 | 3 | 2 | 0 | 6 | 7 | 2 |
| د PGE نورتاکتیکونه | 7 | 3 | 4 | 4 | 1 | 11 | 4 | 9 | 21 | 7 | 4 | 28 |

**دریمه ضمیمه**

**د ملکي کسانو د ژغورنې په موخه د یوناما ماموریت، رول، میتودولوژي**

**د ملکي کسانو د ژغورنې په ارتباط د یوناما ماموریت**

د یوناما د بشري حقونو څانګه داسې فعالیتونه ترسره کوي چې موخه یې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د ۱۸۶۸ (۲۰۰۹) د څلورم پاراګراف (g) سره سم، د بشري حقونو وده او ساتنه ده چې په صراحت سره د یوناما د بشري حقونو څانګه په دې مکلفوي چې د ملکي کسانو له وضعیت څخه نظارت وکړي، او هغه هڅې همغږې کړي چې د هغوی د خوندیتوب لپاره ترسره کېږي. او همدارنګه د اساسي بشري حقونو او بنیادي آزادیو د هغو احکامو په بشپړ پلي کولو کې چې د افغانستان په اساسي قانون، او نړیوالو تړونونو کې نغښتل شوي، او کوم چې افغانستان په کې غړیتوب لري، مرسته کوي.

**د ملکي کسانو د ژغورنې لپاره د یوناما د بشري حقونو د څانګې ستراتیژي**

د یوناما د بشري حقونو څانګه پر دې تمرکز کوي چې پر ملکي خلکو د شخړو اغیزې کمې کړي. نوموړې څانګه د ملکي تلفاتو د ناتایید شویو پېښو په اړه معلومات راټول، تحلیل او څاري، او د راټولو شویو معلوماتو پر بنسټ تبلیغاتی ستراتیژي برابروي. همدغه راز ستراتیژي ګانې د نورو له جملې څخه د حکومت پلوو ځواکونو، افغان حکومتي چارواکو، او د فغانستان د پارلمان غړو او د هیواد د وزیرانو، سفارتونو، ډیپلماتیک هیئتونو، د ملګرو ملتونو ادارو، کورنیو او نړیوالو غیر دولتي موسسو سره مستقیم دفاعی رول هم رانغاړي.

د بشري حقونو د عالي کمشنر دفتر او د یوناما د بشري حقونو څانګې په هغه ژغورنیز کلستر کې چې د بشري مرستو د ټولنې له خوا په ۲۰۰۸ کال کې جوړ شوی و، هم د ګډ رئیس په څېر، او هم د یو داسې لومړنی ارګان په حیث چې کارونه یې پر ملکي کسانو باندې د جنګ په سملاسي او نیغ په نیغې اغیزې متمرکز و، شامل و. د بشري حقونو د عالي کمشنر دفتر او د یوناما د بشري حقونو څانګې په فعاله توګه د ژغورنو په اړوندو پروژو کې د ۲۰۱۰ د بشري مرستو د عمل د پلان په چوکات کې ښکیل و.

د یوناما د بشري حقونو څانګې پر ملکی وګړو د وسله والو شخړو د منفی اغیزې په اړه د څارنې او راپور ورکونې عمومي موخه:

- په شخړه کې ښکیلی خواوې د نړیوال بشردوستانه، او د نړیوال بشري حقونو د قوانینو او د افغانستان اساسي قانون او نورو قوانینو درناوی ته رابلل دي، څو په دې وسیله د ملکي کسانو د مرګ ژوبلی شمیر راټیټ شي که نه نو دوی به په شدیده توګه د وسله والو شخړو څخه متاثره شي؛
- له ټولو هغو اړوندو مراجعو سره مرسته وکړي چې د هغو ملکي کسانو ساتنې ته وده ورکړي، چې د وسله والو شخړو څخه اغیزمن کېږي؛
- ستراتیژی ګانې رامنځته کړي لکه دفاع او همغږی چې موخه یې پر ملکي کسانو د وسله والو شخړو د ناوړې اغیزې کمول وي؛
- عامو خلکو ته په هیواد او له هېواد څخه د باندې پر ملکي وګړو د وسله والو شخړو د اغیزو په اړه معلومات ورکول؛

**متودولوژي**

هغه معلومات چې د دې راپور په برابرولو کې ور څخه ګټه پورته شوې، له یو لړ سرچینو څخه د یوناما د بشري حقونو د څانګې د کارمندانو له خوا د افغانستان په ټولو برخو کې له سیمه ییزو او ولایتي دفترونو څخه تر لاسه شوی.

کله چې د یوې پېښې راپور تر لاسه کېږي، د یوناما د بشري حقونو څانګه یوه خپلواکه څېړنه پیلوي چې د لومړنی راپور رښتینوالی یا نارښتینوالی ثابت کړي. د ملکي کسانو د مرګ ژوبلی کومې شمیرې چې د یوناما د بشري حقونو د څانګی له خوا خپرېږي، پر هغو څېړنو او راپورونو ولاړې دي چې د یوناما د کارکوونکوو له خوا د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا له خوا د ټاکل شوی ځانیز صلاحیت سره سم، او د نړیوال قانون ته د اعتبار د وربخښلو په موخه ترسره شوې وي. د یوناما د بشري حقونو څانګه د ټولو هغو راپورونو په هکله چې په وسله والو شخړو کې د ملکي کسانو د مرګ ژوبلې په اړه تر لاسه کوي ځېړنه کوي، او دا مهمه نه ده چې د نوموړې مرګ ژوبلې مسؤولیت کومې ډلې، پلاوی، او واک ته منسوبېږي.

د یوناما د بشري حقونو څانګه د ملکي کسانو د مرګ ژوبلو د پېښو د څېړنو پر مهال تر ممکن حده د خپلو معلوماتو د سرچینې برېد پراخوي او له هر راز معلوماتو څخه ګټه پورته کوي. ټول هغه معلومات او سرچینې چې تر لاسه کېږي د هغوی د باوریتوب دمعلومولو لپاره نوموړی معلومات تر شننې لاندې نیول کېږي. د یوې ځانګړې پیښې په څېړلو او شنلو کې، د یوناما د بشري حقونو څانګه هڅه کوي، چې ټول معلومات چې دوی تر لاسه کوي، د هغوی د کره توب او دقت په اړه تر ممکن حده له یو زیات شمېر سرچینو څخه لکه د قربانیانو شاهدي، د هغوی د خپلوانو شاهدي، شاهدانو، صحي کارکوونکو، د ټولنې مشرانو، مذهبي او قومي مخورو، حکومت پلوه پوځي ځواکونو، محلي، ولایتي، سیمه ییز، او مرکزي دولتي چارواکو، د ملګرو ملتونو د خوندیتوب او امنیت له څانګې (UNDSS)، ټولیزو رسنیو، خپرو شوو راپورونو او اسنادو، او له نورو د دوهم لاس منابعو څخه مرسته تر لاسه کړي.

چېرته چې کیدای شی، څېړنې د قربانیانو پر لومړنی شاهدي او یا د پیښو د شاهدانو پر شاهدي او یا پر ساحوي څېړنو ولاړ دي. په ځینو مواردو کې په لومړی سر کې د امنیتي محدودیتونو له امله د څېړنې دغه پړاو ناشونې کېږي. په دې حال کې د یوناما د بشري حقونو څانګه پر ځینو تخنیکونو ویسا کوي چې د یوې باوري شبکې له لارې معلوماتو ته لاسرسی ومومي او په دې کار کې له زیات شمیر سرچینو څخه کار اخلي. لکه څرنګه چې یې مخکې هم یادونه وشوه، ټول موجوده معلومات د کره توب له پلوه ارزول کېږي.

ټولې هڅې ترسره کېږي چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې په راپورونو کې چې د ځانګړی پېښې په اړه کوم ډیټا/اطلاعات وړاندې شوی هر اړخیزه وي، خو اړینه نه ده چې نوموړی معلومات په بشپړه مانا پوره وي. کله چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې قناعت د یوې ځانګړې پیښې په اړه پر وړاندې شویو مدارکو حاصل نه شي، نو د هغې پیښې په اړه راپور نه ورکوي. په ځینو مواردو کې څېړنې کیدای شي څو اوونۍ وخت ونیسي تر څو وروستۍ پایلې بشپړې شي. دا به ددې مانا ولري چې په یوه ځانګړې پېښه کې د ملکي تلفاتو په باب نتیجه ګیري ښایي د نورو معلوماتو په پیدا کولو او شننې سره بدله شي. که معلومات شکمن وي، نو نتیجه ګیري به تر هغه وخته پورې و نه شي څو چې د منلو وړ مدارک او شواهد تر لاسه نه شي، او یا هغه قضیه، پرته له کومې پایلې تړل کېږي، او په احصائیوي راپورونو او د میلان په تحلیل (Trend Analysis) کې نه راځي. د معلوماتو د نوی کېدو او د احصائیو د بدلیدو سره به په هغو احصائیوي معلوماتو کې چې میاشت په میاشت خپریږي، واړه توپیرونه تر سترګو شي.

د یوناما د بشري حقونو څانګه د عملیاتي محدودیتونو له امله د ملکي کسانو د مرګ ژوبلو مسئولیت په فرعي ګروپونو نه ویشي. او تر ممکن حده پېښې حکومت پلوه یا د حکومت مخالفو عناصرو ته منسوبوي. تر کومه ځایه چې په حکومت پلوو ځواکونو پورې ارتباط لري، عملیات په زیاترو مواردو کې په ګډ ډول د افغان پوځی ځواکونو او د نړیوال پوځی ځواکونو د یوه ګروپ په واسطه تر سره کېږي. ډېر ځله داسې وي، چې د معلوماتو برابروونکی مرجع نشي کولای د مختلفو عناصرو او د قوماندې د مراتبو سلسلې ترمنځ توپیر وکړي ځو وکولای شي د هغه پراساس مسوولیت پر ځانګړې لورې واچوي. آیساف ډېر ځلې په ځانګړی پیښه کې د مستقیمې ښکیلتیا څخه انکار کوي او نور پوځی ځواکونه د یوناما د بشري حقونو څانګې سره په منظمه توګه اړیکې نه ټینګوي چې ایا دوی په صحنه کې حاضر و او که څنګه، چې له دې امله د مسؤولیت د منسوبولو خبره پاتې کېږي. د یوناما د بشري حقونو څانګه دې پایلې ته رسیږي، چې د یادو شوو محدودیتونو په نظر کې نیولو سره د مستقیم مسئولیت په ګوته کول، کله کله بې لارې کوونکې شي، ځکه چې په زیاترو حالاتو کې ناشونې وي چې په مناسب ډول د افغان او نړیوالو ځواکونو د جزو تامونو ترمنځ چې په پیښه کې ښکیل دي، توپیر وکړای شي. په همدې ډول د وسله والو مخالفو ډلو تر منځ چې له راز راز ګروپونو څخه جوړې شوي او حتمي نه ده چې ټول طالبان وي او تر یوې قوماندې لاندې هم عمل نه کوي او همدارنګه ورسره یوه انګیزه او ایدیالوجي نشته. او دا موضوع په ځانګړی توګه هغه وخت ښه جوتېږي چې مدارک او حتی عیني شاهدان په دې و نه توانیږي چې د دغو ډلو ترمنځ توپیر وکړي.

په ځینو مواردو کې د قرباني د غیر نظامیتوب مساله هم د اختلاف وړ ګرځي. په داسې حالاتو کې بیا د یوناما د بشري حقونو څانګه د موجوده معلوماتو، د نړیوال قانون د تطبیق وړ معیارونو په رڼا کې عمل کوي. دا په دې مانا ده چې د یوناما د بشري حقونو څانګه داسې نه انګیری چې ګواکې هر یو نارینه چې د جګړې د وړتیا عمر پوره کړی وي، خامخا به له ملکي کسانو څخه وي. خو دا شان ادعاوې د ځانګړو حقایقو چې د اړوندې پیښې په اړه موجود دي ارزول کېږي. خو که چیری د یوه او یا زیاتو قربانیانو د غیر نظامیتوب وضعیت تر پوښتنې لاندې راشي، نو د دغې وژنې د ملکي کسانو د مرګ ژوبلې په مجموعه کې نه نغښتل کېږي.

د یادو شوو ټکو په رڼا کې، د یوناما د بشري حقونو څانګه ادعا نه کوي، چې ګواکی هغه احصائیې چې په دې راپور کې وړاندې کېږي بشپړې دي؛ شونې ده چې داسې وي، خو د هغو پورته یادو شویو محدودیتونو له وجهې د یوناما د بشري حقونو څانګه د ملکي مرګ ژوبلو د شمیر په راپور ورکولو کې ټولې پېښې نه رانغاړي.

**په شخړه کې د ښکیلو خواوو مسئولیتونه**

په افغانستان کې اوسني شرایط ډېر پیچلې دي، چې په کې د افغانستان حکومت او د هغه شریکبانو (نړیوال پوځي ځواکونه) او د حکومت مخالف عناصر د مختلفو تاریخچو، عواملو، او جوړښتونو درلودونکی لکه د طالبانو، او د حقاني شبکې او داسې نورې یو له بل سره په وسله والو شخړو کې ښکیلې دي.

په شخړو کې ښکیلې ټولې خواوې د نړیوال بشردوستانه قانون سره سم، مسئولیت لري چې ملکي او په جګړه کې نه ښکیل کسان وژغوري او د خپلو کړنو اغیزې پر ملکي خلکو او ملکي زیربنایي جوړښتونو کمې کړي. هغه دریمه ماده چې د ژنیوا په ټولو څلورو کنوانسیونو کې موجوده ده، په شخړو کې ښکیلو خواوو ته حد اقل معیارونه ټاکي چې په غیر نړیوالو شخړو کې باید د ښکیلو لورو له خوا یې درناوی وشي. ګډه دریمه ماده د بشردوستانه قانون د پلیتوب وړتیا هغو پیښو ته غځوي چې د یوه خپلواک هېواد په ځمکو کې ترسره کیږي، او نه یوازې د دولت فعالان په دې ملزموي، بلکې هغه غیر دولتي فعالان چې په شخړو کې رول لري هم د نوموړی قانون د درناوی ملزم دي. د نړیوال بشردوستانه قانون عرفي قواعد په افغانستان کې په وسله واله جګړه کې پر ښکیلو خواوو د تطبیق وړ دي. په دې اړه، نړیوالو قضایي موسسو اعلان کړي چې د ژنیو په کنوانسیونونو، او الحاقي پروتوکولونو کې نغښتل شوی یو لړ حکمونه د عرفي نړیوال قانون نوې برخه جوړوي.[7] دا موضوع همدارنګه د نړیوال سره صلیب د کمیټې له خوا هم تایید شوې ده، چې نوموړې کمیټه داسې نتیجه ګیري کوي چې د ژنیو د کنوانسیونونو او د الحاقي پروتوکول (I) یو لړ حکمونه او د عرفي نړیوال قانون اعتبار خپل کړې دي، چې په بین المللی او غیر نړیوالوشخړو کې د پلي کېدو وړ دي [8]. نوموړی حکمونه په لاندې ډول دي:

- توپیر: "ملکي کسان د بریدونو څخه خوندي دي، مګر په هغه وخت کې چې دوی په مستقیمه توګه په دښمنیو کې ونډه واخلي"، او" پر ملکي شیانو باندې باید حملې ونه شي ".[9]

- تناسب: " د هغو حملو ترسره کول منع دي چې ښایې د ملکي کسانو د اتفاقي مرګ ژوبلې، او یا ملکي شیانو د ویجاړتیا سبب شي او یا د ټولو یادو شویو احتمالات په کې وي، کوم چې د نظامي اټکل شویو څرګندو او مستقیمو ګټو په پرتله په غیر ضروري توګه زیات وي."[10]

- په بریدنوکې احتیاطي تدبیرونه: "د پوځي عملیاتو په ترسره کولو کې باید له دوامدارې پاملرنې څخه کار واخیستل شي، څو د ملکي نفوسو، ملکی وګړو او ملکي شیانو ساتنه ترسره شي. ټول شونې احتیاطي تدبیرونه باید ونیول شي چې د ملکي کسانو اتفاقي تلفات، ژوبلتیا، او ملکي شیانو ته د ویجاړتیا مخنیوی وشي او په هر حال کې یې کچه راټیټه شي."[11]

بله دا چې د نړیوال بشردوستانه قانون برسېره، د قوانینو نورې مجموعې هم د پلې کېدو وړدي. که څه هم یاغیان په جګړه کې د برخه اخیستلو وړتیا نه لري، بیا هم دوی د اړوند هیواد د جزایي قوانینو د احکامو له تعقیب څخه معافېدلای نه شي. د بشري حقونو نړیوال معیارونه چې یو هېواد منلي دي، او یا هغه چې د عرفي نړیوال قانون برخه جوړوي، تل د وسله والو شخړو په وخت کې د تطبیق وړ دي.[12] حکومت پلوه پوځي ځواکونه د نړیوال بشردوستانه قانون او د نړیوال او هم د بشري حقونو له نړیوالو معیارونو څخه د سرغړونې په خاطر مسئول ګڼل کېږي.

---

[1] بین المللی بشردوستانه عرفي قانون د "بشري سپر کارول" منع کوي. د دې مانا دا ده چې "د نظامي او ملکي هدفونو یا هغو کسانو یو ځای کول چې په جګړې کې د برخې اخیستلو وړتیا نه لري په دې منظور چې هغه نظامی هدفونه له حملې څخه وژغوري"، منع دي. (IRC Study, Rule 97: See Also Protocol I, art. 57 (7)). د یوې کورنۍ کور قبضه کول او هغې کورنۍ ته خوندي ځآی ته د تګ اجازه نه ورکول څو دښمن له حملې کولو څخه منع کړي، "د انساني سپر د کارولو" یوه بیلګه ده.

[2] حامد کرزي سره مرکه، د الجزیرې ویبپاڼه د ۲۰۰۹ کال د فبروری میاشتې

[3] د سره صلیب د نړیوالې کمیټې ارزونه، ۶۵ قاعده

[4] "د جګړې لګښتونه: په افغانستان کې د ښخړې تجربې، ۱۹۷۸ ـ ۲۰۰۹"، د افغانستان د مدنِي ټولنې فاروم، د افغانستان د سولې او دیموکراسي ټولنه، د ښځو د حقونو د دفاع اتحادیه، د افغانستان د همکاری مرکز، د افغانستان د بې وزلو ښځو او نجونو روزنیز ښوونیز مرکز، اکسفام جي بي، د بشري هوساینې سازمان، سنایي انکشافي سازمان، او د اړیکو دفتر، نوامبر ۲۰۰۹.

[5] د سره صلیب د نړیوالې کمیټې ارزونه، ۲۳ـ ۲۴ قواعد

[6] د سره صلیب نړیواله کمیټه، زموږ نړی، له ساحې څخه لیدنې، افغانستان، د نظریې ارزونه، ۲۰۰۹، د سره صلیب نړیواله کمیټه ژنیو، سویټزرلینډ، ۲۰۰۹

[7] د بېلګې په توګه وګورئ: (ICTY, Prosecutor vs. Zoran Kupreškić et al., Case No. IT-95-16-T (14 January (2000), para. 524.

[8] ICRC, *Customary International Humanitarian Law*, ed. Jean-Marie Henckaerts and Louise Doswald-Beck (CUP/ICRC, Cambridge 2005) [ICRC Study]

[9] د سره صلیب د نړیوالې کمیټې ارزونه، ۶، ۷ قواعد

[10] د سره صلیب د نړیوالې کمیټې ارزونه، ۱۴ قاعده

[11] د سره صلیب د نړیوالې کمیټې ارزونه، ۱۵ قاعده

[12] د بېلګې په توګه وګورئ: (*I.C.J. Reports 2005*, para. 219) د کانګو په دیموکراتیک جمهوریت کې وسله وال فعالیتونه (کانګو د یوګاندا په مقابل کې).